صدای طالبان

مجله صداي طالبان 08

رمضان المبارک ۱۴۴۶ ه ق بمطابق مارچ ۲۰۲۵ ء

صدای طالبان
اتم ټوک

Mujallah Sada E Talliban

MARCH 2025

RAMADHAN 1446



- ولې په پاکستان کې باید یوائځې د تحریک طالبان پاکستان ترچتر لاندې جهاد وشي؟
- د تحریک طالبان پاکستان د دارالافتاء غړي مفتی ندیم خان درویش المهاجر حفظه الله د هجرت کیسه
- د هیواد پر روان وضعیت او د علماء کرامو د مظلومانه شهادتونو په تړاؤ د تحریک طالبان پاکستان د امیر مفتي ابو منصور عاصم حفظه اللّه مهم پیغام

@umarmedia https://umnews.net

فهرست مضامین

سرمقاله

الخندق عملیات، د پاکستان د جهاد د بریالیتوب لپاره نوی قدم

په نړۍ کې د حق او باطل ترمنځ مبارزه له هغه ورځې را روانه ده، چې آدم علیه السلام د خالق له لوري ځمکې ته راښکته شو. دا جګړه نه یوازې د زمانې په اوږدو کې بدله شوې، بلکې د صبغې او وسیلو له پلوه هم تکامل ته رسېدلې ده. که د تاریخ پاڼې واړوو، نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کې د مکې له مظلومو صحابه کرامو نیولې، تر بدر، احد او خندق پورې، هر میدان د همدې ازلي مبارزې بېلګه او ډګر پاتې شوی دی.

نن، د همدې مبارکې او سپېڅلې مبارزې په تسلسل کې، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د لښکروارثان، د تحریک طالبان پاکستان غازیان، په پاکستان کې د غرب مزدورو غلامانو پروړاندې د بشپړې خپلواکۍ، اسلامي نظام، او د یوې اسلامي ټولنې د رامنځته کېدو په خاطر د جهاد په ګرمو سنګرونو کې باطل ته په ګونډه دي.

د تحریک طالبان پاکستان جهادي مشرتابه، له اوږدو مشورو، تدابیرو او استخارو وروسته، د ۲۰۲۵م کال د پسرلي له پیل سره، د کلنیو تعرضي عملیاتو لپاره د "الخندق عملیات" نوم غوره کړی دی. دا نوم یوازې یو سمبولیک عنوان نه، بلکې د اسلامي تاریخ له یوه ډېر مهم پړاوه سرچینه اخلي، چې د مظلومو مسلمانانو د صبر، تدبیر، قربانۍ او د الله تعالی د نصرت یوه ژوندۍ بېلګه ده.

کله چې د مدینې منورې مسلمانان د عربو د ټولو قبیلو له یوه پراخ او متحد یرغل سره مخ شول، رسول الله صلی الله علیه وسلم د جنګي تدبیر له مخې، د مدینې شاوخوا خندقونه وکیندل، څو دښمنان د مستقیم برید توان ونه لري. مسلمانانو، سره له دې چې د وسایلو، تجهیزاتو، او افرادو له کمښت سره مخ وو، د ایماني قوت، د امیر د اطاعت، او د الله تعالی د نصرت په وسیله داسې یوه جنګي تګلاره خپله کړه، چې

نه یوازې د دښمنانو د ماتې سبب شوه، بلکې د اسلام د زبردست پرمختګ بنسټ یې کېښود. په همدې مبارکه غزا کې رسول الله صلی الله علیه وسلم دا تاریخي جمله وویله: "الآن نغزوهم ولا یغزوننا" – یانې: "اوس به موږ دښمن تعقیبوو، او هغوی به نور په موږ بریدونه نشي کولای." دا یوازې یوه خبره نه وه، بلکې د اسلامي فتوحاتو د نوي پړاو پیلامه وه.

له تېرو ۷۷ کلونو راهیسې، په پاکستان حاکم او مسلط شریعت دښمنه پوځ، چې ځان ته د هېواد محافظ وایي، د دې خاورې اصلي اشغالګر او ظالم دی. دوی د اسلامي نظام د قیام مخه نیولې، غرب ته د غلامۍ تړونونه لاسلیکوي، د امریکا، اسرائیلو، او برطانیې د استخباراتي ادارو خدمت کوي، او د اسلامي شعایرو خلاف دسیسې جوړوي.

په ګران هېواد پاکستان کې په ځانګړې توګه په خیبر پښتونخوا، بلوچستان، او قبایلي سیمو کې د پوځ وحشت، د علماوو او مظلومو خلکو شهادتونه، د جوماتونو او مدرسو ورانول، د بېګناه مسلمانانو عام وژنه، او د مزدورو سیاسي ګوندونو له لارې د اسلامي ارزښتونو کمزوري کول، ټول هغه ناورینونه دي، چې ملت یې باید د تل لپاره د ختمولو هوډ وکړي.

د پاکستان ولس باید د دې حقیقت درک وکړي، چې تر څو دا ظالم، مزدور، او غیراسلامي سیستم شتون ولري، اسلام به یوازې د شعار تر کچې پاتې وي. موږ د اسلامي نظام د قیام لپاره د عملي اقداماتو اړتیا لرو.

موږ له ټولو دیني عالمانو، مجاهدینو، قبایلي مشرانو، او عامو مسلمانانو غوښتنه کوو، چې د اسلامي نظام د قیام لپاره، د تحریک طالبان پاکستان جهاد ته لاس ورکړي، د غیراسلامي نظام د غلامۍ له زنځیرونو ځان خلاص کړي، او د الله تعالی د دین د حاکمیت لپاره مبارزه وکړي.

تحریک طالبان پاکستان دا مبارزه د الله د رضا لپاره پیل کړې، او تاریخ هم دا سبق راکوي، چې د الله د لارې مجاهدین که له ځانه سره صبر، تدبیر، او قرباني ولري، نو الله تعالی یې په حتمي توګه بریالي کوي.

د هغه ورځې تمه موشته، چې د اسلامي نظام سپېځلې پګړۍ د دې خاورې په سر کېښودل شي، دا خاوره د اغیارو د استعمار له زهرجنو منګولو خلاصه شي، او د اسلامي نظام د بنسټونو د ایښودلو نوې مرحله پیل شي. ان شاء الله تعالی.

مجاهدین باید څنګه احتیاط وکړي؟!

د ټولو مجاهدینو په ځانګړې ډول د تحریک طالبان پاکستان مجاهدینو لپاره ۱۰ احتیاطي تدابیر

مولوی مزمل صاحب

يَأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا خُذُوا حِذْرَكُمْ فَانفِرُوا ثُبَاتٍ أَوِ انفِرُوا جَمِيعًا. (سورة النساء: ۷۱)

ژباړه: اې مؤمنانو! هر وخت د مقابلې لپاره چمتو اوسئ، بیا چې څنګه وخت مومئ د بېلا بېلو ټولګیو په توګه (مقابلې ته) ووځئ یا یو موټی ووځئ.

۱- زیاتره مجاهدین احتیاط نه کوي، له ځان سره اسلحه نه ګرځوي او پېره نه کوي.

او بیا دا دلیل هم وایي، چې مرګ په خپله شپه ده دغه خبره چې (مرګ پخپله شپه ده) پخپل ځای کې پرځای خبره ده مګر د بې احتیاطۍ لپاره یې دلیل نیول یوه لویه تېروتنه ده او یوه لویه ګناه ده او خدای مه کړه که چېرته د کوم مجاهد د بې احتیاطۍ، پېرې نه کولو او یا هم له ځان سره د اسلحې د نه ګرځولو په سبب ملګري په شهادت ورسېږي؛ نو ددې مظلومو ملګرو شهیدانو قاتل همدغه بې احتیاطه او تنبل مجاهد دی ځکه احتیاط یو له هغو امورو څخه دی، چې الله (جل جلاله) یې مجاهدینو ته امر کړی دی او په نه کولو سره یې نوموړی شخص مسئول شمېرل کېږي ځکه الله تعالی فرمایي:

يَأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا خُذُوا حِذْرَكُمْ

اې مؤمنانو! هر وخت د مقابلې لپاره چمتو اوسئ!

امام بغوي (رحمه الله) د پورته آیت مبارک په تفسیر کې لیکلي چې: له (حِذْرَكُمْ) څخه مراد د جهاد اسباب او اسلحه مراد ده!

همدارنګه امام طبري (رحمه الله) هم ددې آیت مبارک په تفسیر کې ذکر کوي: خذوا حذركم خذوا جُنَّتكم وأسلحتكم التي تتقون بها من عدوكم : يعنې الله تعالی فرمایي: خپل ډالونه او خپلې هغه اسلحې له ځانونو سره واخلئ چې خپل ځانونه له دښمن څخه پرې ساتلی شئ!

۲- مجاهدین ملګري باید د دښمن په قوت، استعداد، افرادو، امنیتي مرکزونو، امنیتي لارو او د خپلې اسلحې د استعمال په اړه بشپړ معلومات ولري!

ځکه امام طنطاوي (رحمه الله) په خپل تفسیر کې د شیخ محمد عبده عجیبه تفسیر ذکر کوي: «الحذر: الاحتراس والاستعداد لاتقاء شر العدو، وذلك بأن نعرف حال العدو ومبلغ استعداده وقوته ومعرفة أرضه وبلاده ويدخل في الحذر والاستعداد معرفة الأسلحة وكيفية استعمالها فكل ذلك وغيره يدخل تحت الأمر بأخذ الحذر.»

لنډیز یې داده چې له (خذوا حذركم) څخه مراد دادی، چې مجاهدین باید د دښمن د قوة اندازه، استعداد، د دښمن ځایونه او مرکزونه وپېژني همدارنګه کوم مجاهد ملګري ته چې کوم ډول اسلحه سپارل کېږي؛ نو لومړی یې امیر او بیا پخپله دغه مجاهد په دې مکلف دی چې ددې ډول اسلحې د استعمال په کیفیت په بشپړ ډول پوه وي او د نه پوهې په صورت کې امیر او مجاهد دواړه مسئول دي، ترڅو چې له هر مجاهد سره کومه اسلحه وي د هغې په استعمال کې باید له هر چا څخه ماهره وي مجاهدین ملګري باید په مرکزونو کې خپل قیمتي وخت عبث تېر نه کړي، بلکه ټول وخت یو له بل سره په تعلیم

او تعلم او د اسلحو په زده کړې سره قیمتي کړي نو په دې سره به مجاهدینو هم پرمختګ کړی وي او خپل مسئولیت به مو هم اداء کړی وي، د دښمن مرکزونو ته لارې، د دښمن د تېښتې لارې، د مجاهدینو د خلاصون لارې او داسې نورې مهمې لارې د نقشې پر مخ او همداسې په عملي ډول مجاهدین زده کړي او همدارنګه مجاهدین ملګري باید د دښمن ټول هغه اسباب وپېژني، چې په هغه سره د مجاهدینو مرکزونه کشفوي او د دښمن د ټولو هغو نظامي وسایلو چې د مجاهدینو په خلاف یې کاروي د هغوی د تخریب لپاره باید له معاصرو نظامي وسایلو کار واخلي او په خلاف یې نوي تکنالوژیکي وسایل جوړ کړي.

٣- ځینې مجاهدین ملګري بیا احتیاط نه کوي او دا وایي، چې موږ په الله تعالی باندې توکل کوو.

ګورئ مجاهدینو وروڼو توکل هېڅکله په دې معنا نه دی، چې اسباب او اسلحه به نه استعمالوو ځکه الله تعالی موږ او تاسو ته عقل او پوهه راکړې ده نو په مرسته به یې د خپل وس مطابق اسباب برابروو له دې وروسته به اعتماد په دې اسبابو او اسلحو نه کوو، چې دښمن به ددې اسلحو او اسبابو په واسطه ماتېږي، بلکه فتح، نصرت او کامیابي به الله تعالی ته سپارو او په هغه به توکل کوو، چې موږ ته به فتح او نصرت راکوي.

ځکه یو وخت کې رسول الله (صل الله علیه وسلم) ته یو کس راغی نو (علیه السلام) ورته وایي: چې اوښ دې څنګه کړ هغه ورته په ځواب کې وایي: چې هغه مې د الله په توکل پرېښودلو نو دې وخت کې رسول الله (صل الله علیه وسلم) مبارک ورته فرمایي: چې لومړی اوښ کونډه کړه بیا وروسته په الله تعالی توکل کوه.

لنډه دا چې اسباب برابرول هېڅکله د توکل او تقدیر خلاف نه دي بلکه اسباب برابرول عین تقدیر او توکل دی، ځکه خو زیاتره مفسرین له پورته آیت مبارک څخه استدلال کوي چې مجاهد به همیشه آماده، تیار او ځیرک وي.

٤- مجاهدین ملګري باید له خپلو تلیفونونو سره خورا ډېر احتیاط وکړي.

مجاهدین ملګري باید په تلیفون کې د موقیعت له شودلو څخه او همدارنګه په خپل موبایل کې د (Location Option) له خلاصولو څخه ډډه وکړي ځکه دښمن زیاتره وخت په دې سره د مجاهدینو ځای په نښه کوي او په دې سره مجاهدینو ته په ناپامۍ سره کمین نیسي او په شهادت یې رسوي او داسې پېښې زیاتره واقع شوي هم دي، دغه موضوع باید په جدي ډول ونیسي!

همدارنګه مجاهدین ملګري چې کوم د نوې تکنالوژۍ وسایل، چارجر، شمسي او داسې نور مواد اخلي لومړی هغوی باید په بشپړ ډول چک کړي ځکه هغه شمسي چې مجاهدینو ملګري یې د چارج په خاطر استفاده کوي په دې کې هم دښمن سیم کارتونه ځای پرځای کړي دي ترڅو د مجاهدینو موقیعت پرې معلوم کړي.

٥- مجاهدین ملګري باید خپل منځ کې په مستعارو نومونو سره یاد کړي.

مجاهدین ملګري باید هېڅکله یو بل پخپلو اصلي نومونو یو او بل یاد نه کړي بلکه خپل منځ کې مستعار نومونه وکاروي او دغه مستعار نومونه هم باید د یوڅه وخت په وتلو سره تبدیل کړي، تاریخي حقایقو دا ښودلې ده چې په دې کار سره د ډېرو زیاتو مجاهدینو ژوند ژغورل شوی دی.

٦- د جاسوسانو د مخنیوي لپاره باید له خپلې خدای ورکړې ځیرکتیا څخه کار واخلي، مجاهدین ملګري باید په هر چا اعتماد ونه کړي خپلو مرکزونو دا خلیدو لپاره باید ناپېژندل شوو اشخاصو ته اجازه ورنه کړل شي او د مرکزونو ځایونه تغییر شي.

۷- مجاهدین ملګري باید په یوه ځای د ډېر وخت لپاره پاته نشي.

په ځانګړي ډول سره جوماتونو کې او په یو ځای کې باید زیات مجاهدین پاته نشي او د شپې له طرفه باید زیات احتیاط وشي او پیره باید خامخا وشي.

۸- مجاهدین ملګري باید وخت ضایع نه کړي او یوازې په مرکز باندې اړول او وخت ضایع کول باید جهاد ونه ګڼي بلکه همیشه باید په یو امنیتي او جهادي کار مصروفه وي.

او د ځان د حفاظت لپاره باید له سمځو، غارونو او همدارنګه له تونلونو څخه استفاده وکړي، چې ښه بېلګه یې د فلسطین د مجاهدینو عجیبه زیار او کارنامه ده چې د ځمکې لاندې څو کیلومتره تونل کني، اسرائیلو سره له ټولو نظامي تجهیزاتو او وسایلو ونشو کولای، چې دوی مات کړي یو راز یکې همدغه تونل دی،موږدا نه وایو چې د غزوة الهند مجاهدین دي همدومره لوی تونل وکني بلکه هر چیرته چې د مجاهدینو مرکزوي هلته باید د زیات مقاومت او امنیت لپاره دوی سمځه او یو غار ولري او ددې کار لوی مسئولیت لومړی د امیر او بیا د ټولو مجاهدینو دی.

۹- د غزوة الهند هغه مجاهدین ملګري چې کله تشکیل کوي باید څه وکړي؟

لومړی دا چې مجاهد باید د امیر اطاعت وکړي، که چیرته کوم ملګری اطاعت نه کوي د هغوی د جهاد هیڅ اجر نشته بلکه د هغوی لپاره یو لوی عذاب الله (جل جلاله) تیار کړی دی او که چیرته کومو ملګرو ته زخم او یا هم شهادت رسېږي؛ نو اصلي مجرمین او قاتلین همدغه نافرمانه تش په نامه مجاهدین دي!

دوهم یو مجاهد باید د رهبر په لارښونو سره وړاندې لاړشي!ک.

دریم: مجاهد باید د نورو مجاهدینو نه وړاندې یا یوې بلې خواته لاړ نه شي یعنی بې نظمي ونه کړي او هرې خواته پام وساتي او هر وخت چمتو و اوسي.

څلورم: کله چې مجاهدین د د ښمن د امنیتي پوستو ترڅنګ تېرېږي، باید خپل ټلیفون بند وساتي.

د ټلیفون واله ساعت لرې کړي.

خوشبویي ونه لګوي.

هر مجاهد باید خوراکي مواد او اوبه له ځان سره ولري له اوبو سره باید ډېر پام وشي څکه چې هلته داسې ساحې وي چې اوبه نه لري.

او کله چې یو مجاهد له نورو مجاهدینو نه د کوم حاجت لپاره لرې کېږي باید د خپل څنګ ملګری خبر کړي او کوم ځای کې چې مجاهدین غواړي دمه وکړي یو مجاهد باید له نورو مجاهدینو څخه کوشه (لرې) ځای ونه اوسي.

مجاهد باید په لاره کی بغیر دضرورت څخه خبرې ونکړي.

یوازې د الله(جل جلاله)ذکر وکړي

مجاهد باید هر وخت خپله اسلحه له ځان سره وساتي.

۱۰- مجاهدین ملګري باید له انټرنټ او د موبایل له اړیکو څخه ډېره کمه استفاده وکړي او یوازې د زیات ضرورت په وخت کې وکارول شي او په تلیفوني اړیکه کې باید کنایي الفاظ وکاروي.

پاکستان، پر عام ولس د اجیر فوځ د ظلم او وحشت یو څو بیلګې!

مولوي ابوخالد صاحب



قال الله تعالى: وَمَا لَكُمْ لَا تُقَتِلُونَ فِى سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدنِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِم أَهْلُهَا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا (سورة النساء: ۷۵)

اخر څه دلیل دی، چې تاسې د الله په لاره کښې د هغو بېوسو نارینه، ښځو او ماشومانو په خاطر نه جنګېږئ چې کمزوري کړای شوي، تر فشار لاندې نیول شویدي او فریادونه کوي چې: «اې زموږ ربه، موږ له دې وطنه چې اوسیدونکي یې ظالمان دي وباسه؛ او له خپل لوري څخه زموږ کوم سرپرست او مرستندوی پیدا کړه.»

لکه څنګه چې امام بیهقي په شعب الأیمان کې یو حدیث مبارک ذکر کړی دی: یو حکومت له کفر سره پاته کیدایشي مګر له ظلم سره بیا نه پاته کیږي، د اجیر فوځ ظلمونه له هیچا هم پټ پاته شوي نه دي له هغه لومړۍ ورځې څخه چې زموږ ګران ملک د اسلام په نوم جوړ شوی دی له هماغه ورځې څخه یې د ظلم او وحشت تریخ داستان هم پیل شوی دی،کله چې زموږ ګران هیواد له هند څخه آزادي واخیستله نو زموږ د خواصو او ټول عام ولس دغه هیله او ارزو وه چې نور به اسلامي نظام قایم شي او هیواد به نور له تجزیې څخه بچ شي او ټولو افرادو ته به د اسلام په چوکاټ کې خپل مسلم حقونه ورکول شي، مګر بدبختانه نه خو اسلامي نظام قایم شو او نه هم مظلومو بنګالیانو ته خپل مسلم حقونه ورکول شول، د هیواد کوم عایدات چې ددوی خپل حق و، او باید بیرته په دوی مصرف شوي وای او د پاکستان د نورو افرادو په شان باید دوی ته هم خدمات شوي وای مګر داسې ونشول هوکې بنګالیان له ټولو مسلمو انساني او اسلامي حقونو څخه محروم شول ددې ظلم پایله داشوه چې یو لوی شورش رامنځته شو چې د بنګالیانو آزادي یې غوښته په دې حساس وخت کې د پاکستان حکومت بیا هم وخت لرلو چې دوی ته د خپلو حقونو په ورکولو سره دغه شورشونه آرام کړي مګر د اجیر فوځ د غلطو سیاستونو سره دغو شورشونو نور هم قوت پیدا کړاو ورو ورو دغه شورش په یو منظم مسلح حرکت بدل شو،اجیر فوځ هغوی ته د خپلو حقونو ورکولو پرځای پرې د ظلم او وحشت یو ناتار جوړ کړ، په میلیونونه بنګالیان یې زخمیان او په شهادت ورسول او په همدې شمیر یې له خپلو کورنو او ځایونو څخه هجرت کولو ته اړ کړل،د همدې ظلمونو پایله وه چې د ګران هیواد خاوره تجزیه شوه او یو نوی هیواد د بنګله دیش په نوم منځته راغی، خبره په دې ځای پای ته ونه رسیده بلکه له دې وروسته بلوخ قوم ته خپل مسلم حقونه نه ورکول پیل شول،پرځای ددې چې دوی ته خپل مسلم حقونه ورکړل شي اجیر فوځ د بلوخ قوم ناموس او عزت ته لاس وراوږد کړاو په ښکاره سره به یې د بلوخ قوم زنانه په هلیکوپټرو کې پورته کولې او په هغوی به یې جنسي تیری کولو، ددې ټولو ظلمونو پایله داشوه چې په بلوچستان صوبه کې له کلونو کلونو راهیسې یوه قوي او مسلحه ډله د بلوچستان د آزادۍ لپاره جنګیږي او آزادي غواړي،اوس د ګران هیواد حالات ډیر نازک دي او دغه حالات ورځ تربلې خرابیږي او او ددې اجیر فوځ د غلطو سیاستونو او ظلمونو په سبب هیواد یو ځل بیا یوې عظیمې تجزیې

ته نړدي شوی دی، اجیر فوځ یوازي په دې باندې بسنه ونه کړه بلکه اجیر فوځ همیشه هغه دیني عالم په نښه کوي کوم دیني عالم چې په ګران هېواد کې د اسلامي نظام د قیام آواز پورته کوي او په دې لاره کې یې د زرګونو علماء کرامو معصومې وینې وبهولې او همیش یې هغه جومات او مدرسه په نښه کړې چې د حق چیغه او د اسلامي نظام قیام آواز ترې راپورته شوی لکه د بیلګې په ډول په ۲۰۰۷ م کال کې په اسلام آباد کې په لال مسجد او حفصه مدرسه باندې عملیات د نمونې په ډول یادولای شو، لومړی یې د لال جومات باني مولنا عبدالله(تقبله الله) یې په شهادت ورسولو وروسته یې په لال مسجد او جامعه حفصه مدرسه باندې د وحشت او ظلم داستان پیل کړ،مولنا عبدالرشید غازي(تقبله الله) یې د سلګونو طالبانو سره یوځای په شهادت ورسولو او د حفصه مدرسې سلګونه معصومې طالباني یې په ډېر بې رحمانه ډول سره په فاسفورس بمونو سره ژوندۍ په اوروسوځولې او په شهادت یې ورسولې همدارنګه د اجیر فوځ ظلمونو یوازي په داخل هېواد پورې منحصر پاته نشول بلکه په افغانستان کې له لسګونو کلونو وروسته د لکونو شهداوو په وینو سره د راغلي اسلامي نظام په خلاف یې هم امریکایانو ته نظامي آډې ورکړي او د شلو کلونو په موده کې یې د ګران هېواد ټوله فضاء او ځمکه د امریکایانو په واک کې ورکړه، او په دې سره یې د ګران هېواد زرین تاریخ د غلامۍ په ځنځیرونو کې رابند کړ، امریکایانو یوازي ۵۷۰۰۰ زره هوایي بریدونه زموږ له خاوري څخه د افغانستان په بې ګناه عام ولس وکړل او په دې سره یې هغه د لکونو شهداوو په وینو کټل شوی اسلامي نظام رانسکور کړ او په دې سره یې میلیونونه بې ګناه افغانان په شهادت ورسول او همدومره یې له په هجرت کولو مجبور کړل،اجیر فوځ یوازي په دې بسنه ونه کړه بلکه د کفارو او غربیانو په خوښه یې هغو مهاجر افغانانو ته چې هغوی ته یې پناه هم ورکړې وه په کورونو یې ورته ځمکني او هوایي عملیات پیل کړل او په زرګونو مهاجر بې ګناه مسلمانان یې په شهادت ورسول د همدې ظلم په نتیجه کې قبایل د خپلو مهاجرو مسلمانانو په ننګه ودریدل او له هغوی څخه یې دفاع خپله اسلامي او انساني وجیبه وګڼله، ددې پرځای چې اجیر فوځ له دې ټولو ترخو تجربو څخه باید یوه ښه تجربه اخیستې وای په همدغه مظلومو قبایلو یې هم د (ضرب غضب) په نوم له ظلم او وحشت څخه ډک عملیات پیل کړل، او داسې ظلمونه او وحشتونه یې کړل چې قلم یې له لیکلو څخه عاجز دی!

د قبایلو کلي او بازارونه بمبارد او عزت او ناموس یې لوټ شو د همدې ظلم او وحشت په پایله کې او د اسلامي نظام د قیام په خاطر د تحریک طالبان پاکستان په نوم له ولس څخه یو جوړ شوی تحریک د لویو اکابرو علماء کرامو په قیادت سره په خوځښت پیل وکړ او د جابر طاغوتي او کفري نظام په خلاف یې مسلحانه جهاد د ۵۰۰ علماء کرامو په فتوا سره پیل کړ،طاغوتي او کفري جمهوریت ساتونکې او حامیان یې قطاع طریق او ډاکوان وبلل او د دوی په خلاف جهاد یې یو فرض عین او برحق جهاد وبللو په دې علماوو کې د هېواد نامتو علماء لکه مفتي اعظم پاکستان مفتي نظام الدین شامزی(تقبله الله)،مفتي اعظم پاکستان مفتي فرید(رحمه الله)، شیخ ولی الله کابل کرامي صاحب(تقبله الله)،مولنا عبدالله صاحب(تقبله الله)،مولنا غازي عبدالرشید (تقبله الله) او ..داسې نور د هېواد په سطحه لوی علماء کرام هم هم شامل وو، بیا وروسته د حق آواز پورته کوونکو دغو علماء کرامو څخه زیاتره یې اجیر فوځ په ډول ډول بهانو سره په شهادت ورسول نحسبهم کذالک والله حسیبهم او همدغه پورته فتوی خوځله د (وانا کا آپریشن) تر عنوان لاندې شایع او خپره شوه!

لله الحمد ددې جهاد پیل هم د علماء په قیادت، د ظلم په خلاف او د اسلامي نظام د قیام په خاطر سره شوی دی او ترهغو به جاري وي چې ګران هېواد کې یو سوچه اسلامي نظام راځي او د مظلوم ولس ارمانونه پوره کیږي ان شاءالله!

او د روان جهاد په کامیابه کیدو سره به یو سوچه اسلامي نظام حاکم او ګران هېواد به له تجزیه کیدو څخه وژغورل شي او د هېواد ټولو اتباعو ته به خپل مسلم حقونه ورکول شي بتوفیق الله عزوجل.

ولې په پاکستان کې باید یوازې د تحریک طالبان پاکستان ترچترلاندې جهاد وشي؟



مولانا خالد قریشي

د اتحاد او یووالي په اړه مورږ هره ورځ آیتونه او احادیث اورو او ګورو. همدا راز اوس په نړۍ کې مجاهدین د خپل خپل وسعت او توان په اندازه په یو حد کې جهاد کوي نو په دې مسئله هم پوهېدل پکار دي. په دې اړه زه اکثره همدا خبره کوم چې اوس یوه مجبوري او اړتیا جوړه شوې ده چې مجاهدین چې د کوم هېواد دي، باید په همغه هېواد کې فعالیت وکړي، او هم په دې کې د جهاد او مجاهدینو کټه هم ده او دا د دښمنانو د کمولو (تقلیل الاعداء) لپاره هم یوه مهمه موضوع ده. اوس چې مورږ د پاکستان هېواد او تحریک طالبان پاکستان سره تړلي یو، نو په همدې اړه به د اتحاد او یووالي پر یوه اړخ خبره وکړو.

مورږ ټول پوهېږو چې له پاکستان څخه تر امریکا پورې د پاکستان مجاهدین «تحریک طالبان پاکستان» یا «ټي ټي پي» په نوم پېژندل کېږي او په ځانګړې توګه د مجاهدینو په نزد تحریک طالبان پاکستان یو مسلّم تنظیم او جماعت دی. په هېواد کې د جهاد په اړه تاریخ هم لري او که مجاهدین کومه تمه لري نو هغه هم د دې نوم سره تړلې ده. همداسې د دوی طاقت او پراخوالي ته په کتو سره دا هم ویلای شو چې که د دښمن پر ضد کوم لوی پلان جوړېدای شي نو هغه یوازې تحریک طالبان پاکستان جوړولی شي. د دې خبرې دلیل دا ورکولی شم چې تاسو د مجاهدینو له حالاتو خبر او پوه خلکو په هره غونډه کې د دې خبرې ذکر وکړئ او وګورئ، نو درته معلومه به شي.

اوس چې په یو هېواد کې دا ډول یو تنظیم شتون لري، چیرې چې الحمدلله عسکري، انتظامي او دعوتي چوکاټ جوړ شوی دی، نو په داسې حال کې د جلا جلا جهاد کولو څه کټه کېدای شي؟ او دا تجربه هم شوې ده خو حقیقت همدا راڅرګند شوی چې باید له همدې تنظیم سره یوځای کار وشي. دا ویل شاید مناسب نه وي چې هغه جهاد جهاد نه دی، بلکې مقصد دا دی چې چېرته یووالی نه وي نو هلته د جهاد مثبتې پایلې ورکول هیڅ منطقي نه ښکاري. دلته دا هم مه هېروئ چې د تحریک طالبان پاکستان اصول، د دعوت طرز او قوانین پرته شکه د (پاکستان) مجاهدینو لپاره د تقلید وړ ګرځېدلي دي، چې مورږ یې لومړی دا ډول ګورو چې ډېر مجاهدین له دې سره یوځای شوي دي او همدارنګه د تحریک نه بهر مجاهدینو په دعوت کې د تحریکي اصطلاحاتو استعمال او په ځانګړې توګه د میډیا په میدان کې د تحریک طرز عمل غوره کول هم د دې شاهدي کوي. د دې شیانو مثالونه ورکول شاید اوږد شي، غوره به دا وي چې تاسو یې پخپله مطالعه وکړئ.

د یو جماعت په شتون کې د بل جماعت جوړولو بدي مورږ په ډېرو فقهي مسایلو کې ګورو.

مثلاً، په یوه وخت په جومات کې د دوو جمعو څخه منع کول،

په یوه سیمه کې یوه رائجه سنت طریقه ختمول او خلکو ته د بلې طریقې د رواجولو لارې جوړول،

په یوه سیمه کې چې یو مسلک رائج وي او د بل

مسلک د خپرولو لپاره کارکول وغیره...
نو دلته تاسو وګورئ چې دا دویم کس څه کافر کېږي خو نه، خو د اتحاد او یووالي د ساتلو لپاره شریعت دا منع کړې دي.
زما د خبرو مقصد دا بلکل نه دی چې په نړۍ کې اوس له تحریک طالبان پاکستان پرته بل څوک جهاد نه کوي یا د هغه جهاد د قبول وړ نه دی، بلکې په ملکی کچه د جهاد د جاري ساتلو لپاره یووالي کته هیڅکله نه شي رد کېدای.

اوس دلته پوښتنه دا ده چې ولې یوازې تحریک طالبان پاکستان؟
نو ځواب همدا دی لکه چې ما پورته وویل چې د مجاهدینو جماعتونه د مجبورۍ له مخې د خپل خپل هېواد په حدودو کې جهاد کوي، نو هلته تحریک طالبان پاکستان د پاکستان په کچه تر ټولو لوی او د مجاهدینو په نزد برحق او مسلّم جماعت دی او په دې بنیاد دا د «سواد اعظم» (لوی اکثریت) مصداق جوړېږي. او حضرت انس رضی الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې «زما امت به په هیڅ ګمراهۍ باندې متفق (یو موټی) نه شي، نو کله چې تاسو (خلکو کې) اختلاف ووینئ نو سواد اعظم (لوی جماعت) ته غاړه کېږدئ (یعنې د هغې پیروي وکړئ).»
(سنن ابن ماجه: کتاب الفتن، باب السواد الاعظم)

د هجرت شپه – د ایمان غږ، د مهاجرت اوښکې

د مفتي نديم خان درويش المهاجر حفظه الله د هجرت کيسه

نن د رمضان المبارک ۱۱مه شپه ده. یو کال مخکې همدا شپه وه، چې ما د ظالم او جابر پوځ او سي ټي ډي د جبر له امله، د حق په بدل کې خپل کور پرېښود. ټوله شپه مې په استخاره او مشوره تېره کړه، زړه مې یو ډېر سخت فیصله کولو ته بې قراره و. دا کومه عادي فیصله نه وه، خو د دین تقاضا همدا وه.

سهار کور ته راغلم، په بیک کې مې یوازې څو جوړې کالي کېښودل، او بیا هغه شېبه راغله چې تر ټولو سخته وه، د مهاجرت شېبه. خو دا یوازې د کور پرېښودل نه و، بلکې په دې لاره کې ما هغه هر څه پرېښودل چې زړه ته مې رانږدې وو:

دوه مدرسې، چېرته چې د علم څراغونه روښانه وو.

د تفسیر دورې لپاره له لرې ځایونو څخه راغلي شاګردان، چې ما ورته شل سپارې ویلې وې، خو دغه درس مې نیمګړی پرېښود.

مور او پلار، چې سترګې یې له اوښکو ډکې وې او چیغې یې زما د پښو زنځیرونه جوړېدل.

د مدرسې یو څو نوې جوړېدونکې خونې، چې زما د خوبونو تعبیر وې.

د جومات زړه راښکونکی خطابت، چېرته چې د جمعې او اخترونو رڼاګانې زما په تمه وې.

مدرسې ته راتلونکي مخلص مینه وال، زائرین، او زما د ملګرو روښانه محفلونه.

زما کوڅه، زما دروازې او دیوالونه، زما د ماشومتوب کوڅې، او هغه هر څه چې زما زړه ورسره تړلی و.

بیا، د رمضان المبارک په ۱۱مه، د پنجشنبې په ورځ، ما د خپل دین او ایمان د ساتنې، د حق ویلو د پاسدارۍ، د شریعت د نفاذ، او د فرنګي نظام د رد لپاره خپل هر څه سره مخه ښه وکړه. د مور او پلار ژړا، د مېرمنې او ماشومانو سلګۍ، د ورونو او کوروالو دعاګانې... ټول مې شاته پرېښودل او ووتم. وروسته مې واورېدل چې زما د تلو وروسته زما مور د غم له امله بېهوښه شوې وه.

نن یو بشپړ کال تېر شو او زه د خپلې ګرانې مور پښې د ښکلولو له سعادته محروم یم. کله به چې ورسره ملاقات وشو، هغې به زما لاس او مخ ښکلول، خو اوس له دې محبت څخه هم محروم یم. خو زما زړه مطمئن دی، ځکه چې دا هر څه مې یوازې او یوازې د الله تعالی د رضا لپاره کړي دي. که زما رب زما دا قرباني قبوله کړه، نو هر څه مې منظور دي.

الله تعالی دې د ټولو مهاجرینو او انصارو قربانۍ په خپله بارګاه کې قبولې کړي او زموږ په ګران هېواد کې ژر تر ژره شریعت نافذ کړي. آمین یا رب العالمین!

د روان نـاوړه اقتصادي وضیعت د حل لاره

ډاکټر عاصم

وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ ءَامَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّلِحَتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِى الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِى ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِى لَا يُشْرِكُونَ بِى شَيْأً وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَسِقُونَ

(سورة النور: ٥٥)

ژباړه: الله ستاسو د هغو کسانو سره چې ایمان راوړي او ښه عملونه وکړي، وعده کړې ده چې هغوی په ځمکه کښې هماغه شان خلیفه ګان وګرځوي لکه چې له هغو څخه مخکې تېر شوي خلک یې ګرځولي وو. د هغو لپاره به هغه دین پر محکمو بنسټونو ودروي چې الله تعالی ورته خوښ کړی دی. او د هغو د ویرې (اوسنی) حالت به په امن ورته بدل کړي. هغوی دې زما بندګي کوي او زما سره دې کوم شی نه شریکوي. او څوک چې له دې وروسته کفر غوره کړي، نو همداسې کسان فاسقان دي.

داچې په هېواد کې روان ناوړه اقتصادي وضیعت مخ په وړاندې روان دی او ورځ تر بلې په ګران هېواد کې فقر او بیوزلي مخ په ډېرېدو ده، د هېواد د کرنسی یعني کلداري ارزښت په نړیوالـه کچه بې ارزښته او ټيټ شوی دی، خوراکي او ضروري توکو نرخونه ورځ تربلې پورته کیږي او د فوځ او یو څو جنرالانو د ناوړه سیاستونو له امله مو هېواد د نړیوال بانک په میلیونونه ډالره قرضداره ده، په ګران هېواد کې نا آمنی، غلا، غصب او ظلم خپل وروستي حد ته رسیدلی، لنډه داچې اوس وخت کې مو هېواد یو ډېر بد او ناوړه اقتصادي بحران ته داخل شوی دی؛ ددې ټولو ستونزو حل لاره الله (جل جلاله) د اسلامي نظام په قیام کې نغښتي ده، یو دلیل یې داده چې اسلامي نظام یو لړ داسې منظم مقررات او اصول لري چې په اجرا کولو سره یې په ولس ټیکسونه او مالیې راکمیږي او ورو ورو د هېواد اقتصادي حالت مخ په ښه کیدو کیږي او که چیرته مونږ د رسول الله (صل الله علیه وسلم) ژوند او سیرت مطالعه کړو کله چې مبارک (علیه السلام) له مکې مکرمې څخه مدینې منورې ته هجرت وکړو نو هلته هم لومړي سرکې د مسلمانانو اقتصادي وضیعت زیات خراب و مګر کله چې هلته رسول (صل الله علیه السلام) د یو مستحکم اسلامي نظام بنسټ کېښود نو له دې وروسته د مسلمانانو وضیعت مخ په ښه کیدو شو، تر پرون پورې دوی هغه کمزوري مسلمانان وو چې له خپل ځان څخه یې هم دفاع نشوای کوولای او په هجرت کولو مجبور شوي وو مګر د یو څو کلونو په تېریدو سره رسول (صل الله علیه وسلم) له (۳۰۰۰۰) زره صحابه کرامو (رضی الله عنهم اجمعین) سره د تبوک غزا ته د هغو رومیانو مقابلې ته راووځې کوم چې د هغه وخت یو نړیوال سوپر طاقت (Super power) ګڼل کیده او هغوی په شاه کیږي او بریا د مسلمانانو لاس ته ورځې همدارنګه د تابعینو دور کې کله هم عمر بن عبدالعزیز (رحمه الله) د یو قوي اسلامي نظام بنسټ ږدي نو مؤرخین لیکي چې هغه وخت کې په زیاتره کچه فقر او بیوزلي ورکه شوله تردې چې د وخت شتمنو به د زکات ورکولو لپاره په فقیرانو او بې وزله کسانو په پیدا کولو پسې سرګردانه وو، همدارنګه که چیرته مونږ عثماني خلافت دور تاریخ مطالعه کړو نو هغه وخت کې د نړۍ ټولو مسلمانانو خپل وحدت ساتلی و او د یو اسلامي نظام په برکت یې د یو داسې قوي

نظام بنسټ ایښی وچې اوسنی مغروره امریکا یې هم دېته مجبوره کړې وه چې عثماني امپراطوری ته ټیکس او مالیه ورکړي او څه کم (۶۰۰) کلونه یې په نړۍ باندې اقتدار وچلولو، همدارنګه که چیرته موږ نږدې وخت کې د افغانستان اسلامي نظام ته یو نظر وکړو چې له راتګ څخه پخوا د جمهوریت په وخت یې د هېواد کلنۍ ملي بودیجه ۸۰٪ سلنه د امریکایانو او نړېوالو په مرستو ولاړه وه، یوازې شل سلنه له داخلي عوایدو څخه پوره کېده مګر له دومره نړېوالو مرستو سره سره دې بیا هم په هېواد کې فقر او غربت ورځ تربلې ډېرېده مګر د اسلامي نظام په قیام سره د ټولو هغو غلاوو او خیانتونو مخه ونیول شوه چې د هېواد ملي بودیجه او بیت المال به شخصي جیبونو ته تللو اوس وخت کې یې د هېواد ټوله کلنۍ ملي بودیجه په بشپړ ډول سره له خپلو داخلي عوایدو څخه ده، د کفارو ژبې رسنۍ لکه ... BBC,Azadi,VOA اګرچې په دروغو تبلیغات زیات کوي مګر که چیرته حقایقو ته ځیر شو نو له شته ټولو نړېوالو فشارونو او عدم رسمیت سره سره یې د هېواد اقتصادي ثبات او د خپل هېواد پولي واحد (افغانۍ) ارزښت هم ساتلی بلکه له پخوا څخه ارزښت څو چنده زیات شوی هم دی او په هېواد کې یې وریا دولتي خدمات له پخوا څخه زیات شوي دي او کم شوي نه دي او د هېواد په داخل کې یې د قوشتیپې کانال افتتاح او جوړول یې د نمونې په ډول یادولای شو، دا هرڅه ددې شاهدې ورکوي چې ددې ټولو ناخوالو او ستونزو حل الله (جل جلاله) د اسلامي نظام په قیام کې ایښی دی او زموږ په ګران هېواد کې روان ناوړه اقتصادي حالت د همدې یو څو فوځي جنرالانو

له امله دی ځکه دوی همیشه د خپلو شخصي کټو د خوندي کولو لپاره کار کوي او که چیرته یې شخصي کټو ته خطر پیښیږي نو بیا د هېواد د ملي کټو هېڅ پروا هم نلري، په ګران هېواد کې غلا او نا آمني ورځ تربلې زیاتیږي او په غلا کې پخپله امنیتي کسان، پولیس او فوځیان په لویه کچه ښکیل دي او ددې هرڅه ثبوتونه تاسو پخپلو سترګو لیدلي دي او دغه ناوړه بحران به تر هغو پورې روان وي ترڅو چې ګران هېواد کې مو یو سوچه اسلامي نظام راځي، په دې سره به بیت المال محفوظ او له شخصي جیبونو څخه به وساتل شي او د روانو غلاوو، غصب او ظلمونو مخه به ونیول شي او وروورو به ګران هېواد پاکستان به مو له اقتصادي بحران څخه د فلاح او بهبود په طرف ووځي ان شاءالله!

د یو سوکاله او په اسلامي نظام ودان پاکستان په هیله

د شهادت سپېڅلي لارویان؛

د معاذ کشمیري او عتیق الرحمن بلوچ رح تلپاتې داستان

جمشید انصاري

شهید معاذ کشمیری رحمه الله د هغه ښایسته غریزاو سپېڅلي مظلوم جهادي وطن بچی و چې همېش به د آزادۍ د حصول او د اسلامي نظام د قیام په ژور احساس کې ډوب و. هغه له ماشومتوب څخه د تقوا، زهد، او عاجزۍ په څېر له ځانګړو صفاتو څخه برخمن و. د قرآن شریف تلاوت یې یواځې عادت نه؛ بلکې د هغه لپاره د زړه تسکین او د ژوند اصلي لارښود و.

معاذ په خپل کور، سیمه په ځانګړې توګه په جهادي مرکزونو کې د یوه نرم خوی صفته، صابر، او متقي انسان په توګه پېژندل کېده. هغه د خپلې کورنۍ او دوستانو سره بېحده محبت درلود، خو کله چې د الله تعالی د دین دفاع ته اړتیا شوه، هغه پرته له شکه د خپلو ټولو مادیاتو څخه تېر شو.
نوموړي د الله تعالی په لارکې هجرت وکړ او د جهاد په سنګرونو کې یې د اسلامي امت د عزت او د تېر برم بیا احیا په پار خپل ژوند وقف کړ.

په جهادي میدانونو کې هغه داسې زړورو چې د کفارو او د هغوی د لاسپوڅو غلامانو د صفونو وېره یې له خپل نوم سره تړلې وه.
معاذ به د جګړې په ډګر کې د رب العالمین جل جلاله د کلام په تلاوت سربېره خپلو ملګرو ته د صبر او تقوا درس ورکاوو، همیش به یې خپلو ملګرو ته ویل:
«زموږ د ژوند هدف یواځې دا دی چې د الله دین لوړ کړو. که موږ ژوندي پاتې شو، دا زموږ بریا ده؛ او که د شهادت تاج ترلاسه کړو، نو دا د نړۍ تر ټولو ستر افتخار دی.»

د علم او مبارزې پیکر؛ شهید عتیق الرحمن بلوچ

د کراچۍ ښار ځلانده ستوری، شهید عتیق الرحمن بلوچ، هغه مجاهد و چې د علم او عمل په ډګر کې یې له هیڅ ډول قربانۍ دریغ نه کاوه، هغه یوازې یو مبارز نه، بلکې د ځوانانو لپاره یوه مثالي شخصیت و.

عتیق الرحمن د جهاد په معسکرونو کې د استادۍ مسؤلیت په داسې شان ترسره کاوه چې د هر نوي مجاهد په زړه کې به یې د اسلامي نظام لپاره مینه او د قربانۍ روحیه ژوندۍ کوله. هغه د جګړې په اصولو کې مهارت درلود، او د دې ترڅنګ یې د دیني علومو ژوره پوهه درلوده.

د افغانستان په غرونو کې، هغه د زړورتیا بېساري ښې او ویاړلي کارنامې پرېښودې. هغه به د دښمن په وړاندې داسې مېړانه څرګنده کړه چې د کفارو زړونه به یې رېږول. د هغه ژبه به تل د رب العالمین په یاد ژوندۍ وه، معرکه به یې د تکبیر په ملکوتي نعرو پیلوله.

عتیق الرحمن به د اسلامي نظام د اهمیت په اړه خپلو شاګردانو ته ویل:
«اسلام یوازې په شعارونو نه حاکمېږي. د دې لپاره قرباني، اخلاص، او جهاد اړین دي. موږ خپل ټول ژوند د دې لپاره وقف کړی دی، تاسو ته هم په همدې لار روانېدل پکار دي.»

پاکستان هغه هیواد دی چې د «لا اله الا الله» په بنیاد جوړ شوی، خو له بده مرغه ترنن ورځې پورې پکې

باطل جمهوري نظام حاکم دی.
پدې هېواد کې د اسلامي نظام حاکمیت یوازې هغه وخت شونی دی کله چې د دې ملت زامن د الله د دین لپاره اخلاص او قرباني ورکړي.

شهید معاذ او شهید عتیق الرحمن د خپلو اعمالو له لارې موږ ته دا درس راکوي، چې اسلامي نظام یوازې د هغو کسانو په لاس ممکن دی چې د خپل ځان، مال، او کورنۍ قرباني ته تیاروي. هغوی د خپل ځان او مال په قربانولو سره امت په ځانګړې توګه ځوان نسل ته دا پیغام ورکړ چې اسلامي نظام د دې لپاره دی چې د انسان ټولنیز او سیاسي ژوند د الله جل جلاله تر احکامو لاندې جریان ومومي.

اې د اسلامي امت ځوانانو! تاسو هغه ځواک یاست چې د تاریخ مخ به بدلوئ. تاسو باید په ځان کې هغه روحیه ژوندۍ کړئ چې معاذ او عتیق الرحمن درلوده. هغوی خپلې ټولې مادي کټې پرېښودلې، خپلې کورنۍ، خپل راحت، او د دنیا شهرت یې د الله په لار کې قربان کړل.

نن ورځ ستاسو لپاره دا وخت دی چې د دې سپېڅلې لارې مشالونه روښانه کړئ. د جهاد روحیه یوازې په جګړې نه بشپړېږي، بلکې د قلم، فکر، او عمل په ډګر کې د قربانۍ یوه بشپړه لار ده. تاسو باید خپل ځانونه داسې وروزئ چې د الله دین د دې نړۍ په هر کوټ کې د عزت او لوړتیا مقام ته ورسولای شئ.
د معاذ او عتیق الرحمن ژوند د جهاد په ډګر کې د مبارزې، صبر، او قربانۍ حقیقي بېلګې دي، هغوی موږ ته دا درس راکوي چې یوازې هغه کسان بریالي دي چې خپلې ځانې غوښتنې پرېږدي او د الله جل جلاله د رضا لپاره ژوند وکړي.

شهید معاذ کشمیری او شهید عتیق الرحمن بلوچ رح یوازې نومونه نه دي؛ دوی د اسلامي امت لپاره د زړورتیا، قربانۍ، او اخلاص هغه لارې دي چې هر وخت به د نسلونو لپاره الهام بښونکي پاتې شي.

راځئ! چې د دوی لار تعقیب کړو، د دوی قربانۍ ژوندۍ وساتو، او د اسلامي نظام لپاره خپل ژوند وقف کړو. الله جل جلاله دې موږ ته د دوی په شان د جهاد او قربانۍ توفیق راکړي، زموږ زړونه دې د خپل دین د دفاع لپاره مستقیم او مضبوط وګرځوي.

«إن الله اشترى من المؤمنين أنفسهم وأموالهم بأن لهم الجنة.»
الله جل جلاله دې دا توان را په برخه کړي چې د دې آیت حقیقي مانا ته ځانونه ورسوو، رب العالمین جل جلاله مو دې په همدې لاره د استقامت او ثبات په رسۍ محکم وساتي. آمین

د کړنګ غزا

مهاجر شاکر داوړ

د ۲۰۲٤م کال د۷مې میاشتې په ۳مه نېټه د شمالي وزیرستان د شوې ولسوالۍ د یوې معرکې

د ژمې یخې شپې وې، لمر د وزیرستان د لوړو غرونو په څنډو کې وروستۍ شیبې تېرولې.

سیمې ته د شهید انس تقبله الله تر قوماندې لاندې نوی تشکیل راغلی ؤ چې ملکري بیخي زیات شوي ؤ. زمونږ پټنځای یا مرکز ډېر کوچنی ؤ په دې خاطر یو څه ملکري د شپې لپاره نږدې کلي ته کوز شول او د شهید انس تقبله الله په شمول یو څه ملکري په مرکز پاتې شول.

د سهار خړه لا نه وه رڼکه شوې چې ملکري د غرو تر لوړو را پورته شول یو څه ملکري د دمې لپاره ځای پر ځای کېناستل او ځینو لرګي راوړل او ریې بل کړ. په خوند او خندکانو په اوررا تاؤ شول او اورته یې لاسونه تودول. دې کې به بدردا هم ویل چې ښه درنه چایه راغلې وای او ښه لیونی جنګ مو کړی وای.

حافظ همت او عمر خطاب مخکې له نورو ملکرو روان ؤ او د خپل مرکز په لور یې مزل لنډو یو څه اندازه وړاندې لاړل چې ناڅاپه په یو مرکوني کمین کې ولویدل. حافظ همت له اولو ضربو سره په سر او سینه ولګېده چې همدلته یې خپلې ورستۍ سلګې وکړې او د شهادت لوړ مقام یې تر لاسه کړ.

عمر خطاب چې د حافظ همت تر څنګ روان ؤ په ډېرې زیرکتیا سره په جنګ کې یوې بلې خواته شو.

دلته د جنګ پیل وشو...

او لاندې د دمې لپاره ناست ملکري را پورته شول. دوه دوه دری دری یې له یو بل څخه په لیر لرې واټن کې روان شول هغوي یوی شول چې چاپه د شپې راغلې او زمونږ لارې یې نیولې دي.

شیبه وروسته ډرون کیمره راغله او د شا لخوا په کڼ تعداد پوځ را روان ؤ.

ضرار او څو نورو ملکرو په ډرون کیمره باندې ډزې پیل کړې چې له دې سره د شا لخوا پوځ هم جنګ شروع کړ او مجاهدینو هم پرې مرکوني کوزارونه پیل کړل چې دوښمن یو څه وځپل شو او په څه اندازه شاتګ ته مجبور شو.

ملکرو لار بدله کړه او د کړنګ په لور وخوځیدل، ځای پر ځای پوځیان ښکاریدل او جنګ به ورسره کیدۀ.څو دا چې دوښمن د شپې لخوا ټوله سیمه محاصره کړې وه نو ځکه د مجاهدینو وتل ګران ؤ. ملکري په جنګ جنګ کې وړاندې روان ؤ کله چې کړنګ ته ورسېدل نو له هرې خوا محاصره شول او یوه سخته مرکوني جګړه پېل شوه.

ملکري په یوه ژوره کنده کې ځای پر ځای تقسیم شول چې دا کنده که څه هم د جنګ لپاره مناسب نۀ وه خو محاصره ملکروته بل مناسب ځای هم نۀ ؤ. دلته د راکټو او مرمیو یو درزهار جوړ شو د رب العزت نصرتونه هم لکه باران په وریدو ؤ ملکرو به په خپلو سترګو لیدل چې حوصلې او عقیدې یې لا پیاوړي کیدې.

عبیده مخامخ په سخته جګړه بوخت ؤ چې یو دم یې ټوپک بند شو. په عبیده له څلورو خواو مرمی شغېدې چې د ټوپک خلاصول او بیا بسته کول ممکن نۀ ؤ خو عبیده هم وار خطا نکړ په جنګي تکتیک مخکې روان ؤ چې یو ناڅاپه وغورځیدۀ او په ورانه باندې یې یو ژور زخم وخوړ بیا هم عبیده یو قوي ځوان ؤ پورته شو او احمد ته یې ځان ورسوو. احمد او عبیده دواړه کم عمره ژني ؤ خو حوصلې یې له مشرانو هم

قوي وې.
احمد عبیده د یوې تیرې او کمر تر منځ څملوو زخم یې په ځادر ورته وتړو او یو بل ځادر یې پرې هوار کړ.
وچ واښه او خاورې یې پرې واچولې تر څو یې ډرون کیمره ونه ویني
احمد یې تر څنګ کیناست او مخې ته یې ډبرې کیښودې خپل سنایپر یې په تیرو کیښود او متوجې کیناسته عبیده ته یې ډاډ ورکاوه چې اندیښنه مه کوه زه به تر مرګه درسره یم دوښمن به پرې نږدم چې تا ژوندی یوسي نور دلته عبیده له حرکته لویدلی و وینه یې زیاته تللې وه او د بیهوشی حالت ته نږدې و یو بدماش پوځي قومندان چې کنځه یې هم کولې او بار بار یې غږ کاوه چې نور اصلحې په ځمکه کیږدی او تسلیم شئ!
لاس کې یې مخابره هم وه او په لوړ غږ غږیده د احمد په لورر ا روان و چې یو دم احمد ته ښکاره شو احمد هم په ډیرې زړورتیا سره د سنایپر وار پرې وکړ او په سر یې وویشت
لاندې د اوبو ډنډونو ته را پریوت او مردار شو
نور ملګري هم دلته نږدې دوه دوه یو له بل نه جلا جلا ناست و.
طلحه او بدر له دوی څخه یو څه هسک و چې دوښمن ته ښکاریدل او د دوښمن ټوله توجو طلحه او بدر ته وه.طلحه او بدر سخته جګړه وکړه په پوره مهارت سره وړاندې روان و نوریې له دوښمن څخه لار ورکه کړې وه چې اخر دا محاصره زمري څنګه کنټرول کړ. دوارو په ډیرې چالاکی سره ست مرکونی جنګ وکړ نوریې مرمی هم خلاصیدو ته نږدې وې.
طلحه په خپل ګرنیټ کوف باندې د کړنګ غزا نوره هم توده کړه چې زیات شمیر عسکر یې ووژل.
جنګ یو څو چنده نور هم سخت شو، ډرون کیمرو او هیلیکوپترو خاموشه فضا په وحشتناک شور بدله کړې وه چې په دې وخت کې د اسلام دوو سر سپارلو غازیانو طلحه او بدر د شهادت لوړې درجې تر لاسه کړې او خپلې وعدې یې همدلته پوره کړې.
لاندې په کڼ تعداد محاصره ملګري د سختې جګړې لاندې و
ملنګ او حمزه چې دواړه لوبیدلي او بلد مجاهدین و فیصله یې وکړه چې مونږ تاسې دواړه په دوښمن مخامخ ورځو او جګړه به کوو تر څو د دوښمن توجو مونږ ته واوړي او له لاندې په کڼ شمیر محاصره شویو ملګرو نه یې توجو بدله شي.
دوی همداسې وکړل پورته شول او مخامخ نږدې په لس متری کې یې خلور پوځیان مخې ته و چې په څو ضربو سره یې مردار کړل.
د ټول راغلي پوځ توجو ملنګ او حمزه ته واوښته په ملنګ او حمزه یې د مرمیو داسې باران وکړ چې ګمان کیده چې نور به دلته هیڅ یو ساه اخیستونکی ژوندی نه وي پاتې خو د الله تعالی مدد او ساتنه ځان ته وه دغه د اسلام دوه میړني ساتونکي ملنګ او حمزه تر اوسه رک روغ و او چې کوم ځای کې به دوښمن ورته ښکاره شو تر برید لاندې یې نیوو.
محاصره وار په وار سختیده ملنګ او حمزه د یوې تیرې تر څنګ کیناستل نوریې د ژوند امید بایللی و او د خپل پاک ارمان شهادت په هیله ناست و ملنګ خپل مبایل را واخیست یوه تیره یې لاندې او بله یې پرې د پاسه مبایل یې مات کړ زره زره شو د دې لپاره چې د شهادت وروسته یې دوښمن ته په لاس ور نشي.
د ملنګ چانټه هم لړیدلې وه مرمی یې په شاجورو کې ښخې شوې وې خو د اللّه تعالی مدد و چې کوم زیان یې نه و ورته رسولی اما په ورانه باندې یې یو ژور زخم خوړلی و خو د اسلام دې زړاور ساتونکي دا زخم عادي وګاڼه او هیڅ یې محسوس نکړ.
لاندې د نورو محاصره زلمیو هم دا حال و یو بل مجاهد ضرار چې لیزر ورسره و څو ځله یې د لیزر د ماتولو هڅه وکړه ورځ وه د لیزر استعمال نه کیده خو له ضرار سره هم دا احساس و چې له شهادت وروسته

مې لیزر دوښمن ته پهٔ کار ور نشي.

حمزه رانجهٔ را واخیستل ملنګ او حمزه دواړو سترګې تورې کړې او مسکي مسکي کېدل. سبحان الله پهٔ دومره سختو حالاتو کې سترګې تورول او خنداګانې کول د رب العزت مرسته او د مجاهدینو کرامت دی.

ملنګ او حمزه چې لهٔ هر لوري څخه دوښمن لیدلي ؤ خپل پوځ یې کرار کرار را وړاندې کاوهٔ.

یو بل یې پهٔ زور او پیغور سره د اسلام د دوو زمریانو مخې ته را وړاندې کول چې پهٔ څهٔ زور او ډار سره پهٔ نهٔ زړهٔ څلور پنځهٔ پوځیان د ملنګ او حمزه خواته را روان شول ملنګ او حمزه غلي د یوې ډبرې تر څنګ ناست ؤ عسکر وړاندې را روان ؤ کله چې بیخي ډېر را نږدې شول نو دواړو شاهین صفته غازیانو د تکبیر لهٔ هیبتي غږ سره ناڅاپي حمله پرې وکړه چې پنځهٔ واړهٔ یې ځای پر ځای کرار کړل .

لهٔ دې سره د دوښمن زړهٔ مات شوی ؤ او پهٔ خپل کړې جرأت سخت پښیمانه ؤ نور یې وهٔ نشوای کولی چې د غزوة الهند پهٔ سرتیرو غازیانو بریا ومومي نور د مرکوني ورځې لمر هم د غرونو پهٔ څنډو کې د پنا اخیستو پهٔ حال کې ؤ محاصره هم ماتیدونکي وه را درومو هغو ملګرو ته چې پهٔ مرکز پاتې شوي ؤ او لهٔ محاصرې څخه د باندې ؤ سهار دوه ملګري د مرکز سره نږدې پهٔ یوه غونډۍ د پیرې لپاره ناست ؤ

ګران رهبر انس تقبله الله او نور ملګري د قران کریم پهٔ تلاوت بوخت ؤ مونږ دوه ملګري چای پخوو او د ناشتې پهٔ تیارولو بوخت ؤ چې ډېرې سختې ضربې وشوې او د راکټ غږونه مو واوریدل انس جان وویل چې پاځئ پهٔ ملګرو یې کمین وواههٔ هلئ چې ځانونه ور رسوو ملګرو ټوپکې او چانتې واخیستې د سترګو پهٔ رپ کې تیار شول.

انس مخته او ملګري شاته پسې روان شول لږ وړاندې چې لاړو انس ځمکې ته وکتل او ودرېدو پهٔ هیبتي غږ یې وویل چې د پوځ د پښتو نښې دي او ډېر زیات پوځ تللی دی کوز ملګري داسې معلومیږي چې لهٔ هرې خوا محاصره دي او پوځ لا د شپې لارې او غرونه نیولي دي.

شهید انس تقبله اللّٰه پهٔ جنګي پلانونو کې زیات مهارت درلود ملګري یې دوه دوه پورې را پورې د جګو غرو ژیو ته تقسیم کړل ماته یې هم وویل چې د شاته ملګرو سره لاړ شه خو زما ضمیر نهٔ منله چې انس جان یوازې پرېږدم انس مې مجبور کړ چې زهٔ ورسره لاړ شم دوه ملګري نور هم راسره مل شول او چرته چې جنګ شروع ؤ هغې خواته روان شوو کله چې د نږدې کیدو پهٔ حال کې ؤ هیلیکوپترې را ورسیدې او دومره ټیټې دورې یې وهلې چې هوا یې زمونږ له سرونو پکولونه وغورځول. شاته مې د تورو کالیو سړي ولیدل انس وویل چې دا شاید زمونږ ملګري وي خو لږ وروسته شین لوګی پورته شو چې هیلیکوپټرو ته یې کومه نشانه ورکوله چې مونږ خپل خلک یو یا دا چې محاصره تر دې بریده ده. نږدې وه چې مونږ هم محاصره شوي وای خو مونږ لهٔ وړاندې د محاصرې نه د باندې و پهٔ دې وجه دوښمن ونهٔ توانیدو چې مونږ محاصره کړي.

پهٔ دې موقع دلته زمونږ لپاره جنګ کول پهٔ خپله ځان وژل و نو بیرته د جنګ لپاره شاته شوو تر څو یو بل مناسب ځای ولټوو. رابطه مو وکړه مشرانو وویل چې محاصره ډېره پراخه ده تاسې پرې د شا لخوا جنګ مهٔ کوی ځکه چې تاسې پهٔ هوایي بمبار خرابولی شي. کهٔ څهٔ هم انس د جنګ ډېر زیات کوشش وکړ خو امر دا ؤ چې تاسې به جنګ نهٔ کوی

انس یو دینداره امر منونکی مجاهد ؤ کله به چې پهٔ محاصره ملګرو جنګ سخت شو انس به لهٔ ډېرې غوصې یوې او بلې خوا ته تاویدو ضمیر یې نهٔ منله چې ګلالي ملګري دې محاصره وي زهٔ دې دلته ناست یم سترګې یې تکې سرې وې رنګ یې لهٔ غوصې ډک ؤ غټ شانته پکول یې یو ملګري ته ورکړ او خپل ګلدوزي څادر یې کوږ ووږ لهٔ سره تاؤ کړ لیزر یې لهٔ ټوپکه خلاص کړ او د ورځې دوربین پرې

نصب کړ.
لکه په پنجره کې بند زمری یو خوا بل خوا یې قدم واهه او شونډې به یې چیچلې.
د مازیګر اذان به شوی ؤ چې معاویه رابطه وکړه چې په پلانی لاره باندې یو څه شمیر پوځ واپسي وکړه.
مونږ ډېره هڅه وکړه چې ترکمین لاندې یې راولو خو لا راوړده وه چې څو مونږ رسیدو دوښمن تیر شوی ؤ.
دا دمشرانو امر و چې جنګ مه کوی که مونږ په واپسي کې هم جنګ کړی وای نو دوښمن محاصره اوړدوله او محاصره ملګري چې کوم ژوندي پاتې و ټول به شهیدان او زخمیان به یې ژوندي نیولی وای.

په امر منلو کې الله تعالی لوی لوی حکمتونه نغښتي وي مجاهدین باید په سختۍ او اسانۍ کې د امیر اطاعت وکړي خیر
دا د چاپې د ماتیدو شیبې وې محاصره ختمیده او مونږ هم د جګړې ځای ته کرار کرار نږدې کیدو. کله چې هغې ځای ته وراسیدو چرته چې سهار ملګرو دمه کړي وه او اوریې بل کړی ؤ هلته ډیرې وینې تویې وې ستنې او پټې هم پراتې وې خو دا د پوځیانو د مړیو او ټپیانو وینې وې.
ملګري مو شاوخوا ولټول خو څوک مو ونه موندل دا وخت ماښام شوی ؤ لاندې د کلیو آبادیو نه نیم ورک ورک د اذان غږ اوریدل کیده د ماښام لمونځ مو ادا کړ ټوله ورځ خونړۍ جګړه تیره شوې وه تیارۀ هم ډیره بوږنونکې وه. مونږ هم د ورکو ملګرو په لټه کې ؤ ملګري مو تقسیمول چې په ورکو ملګرو پسې وګرځو.
چې نا ځایه له مونږ سره نږدې د یوې کندې نه دوه تور سیوري را ښکاره شول چې د ټوپکو شپیلی یې په مونږ برابرې کړې او غږیې وکړ. څوک یی؟ انس ور غبرګه کړه. ملګري یو او دوی هم ځانونه معرفي کړل یو بل ته مو غاړې سره ورکړې په ملګرو کې نوی روح پیدا شو چې شکر دی دوه ملګري خو مو ژوندي دي. دا دوه ملګري ملنګ او حمزه ؤ ملنګ او څو نور ملګري مو د آرام لپاره یو کلي ته ولیږل ملنګ زخمي شوی هم و او د درملنې زیاته اړتیا وه ورته.
او د انس تر قوماندې لاندې یو څو ملګري حمزه هغې ځای ته روان کړو چرته چې ملګري محاصره ؤ
هلته له رسیدو مخکې مو په لاره کې څه ولیدل
ګورو چې تیرې ونې بوټې هر څه په مرمیو لګیدلي دي ډیرې وینې هم تویې وې یو پکول او یو جوړ سرویس بوټان په وینو سره پراته ؤ دلته طلحه او بدر شهیدان شوي ؤ مخکې روان ؤ کړنګ ته وراسیدو او د محاصرې ځای مو تیره په تیره وکاته خو بې له وینو مو بل څه ؤ نه لیدل
د وینو په غځو غځو دارو پسې روان شوو مونږ ته حمزه ویلي ؤ چې عبیده وختي زخمي شوی ؤ خو والله اعلم چې اوس به چرته او په کوم حال وي
ډیرې چیغې او سورې مو وکړې خو عبیده غږ نۀ کوو اخر چې ضرار غږ وکړ او مونږ هم په ډیرې بې صبرۍ ور منډه کړه او ضرار احمد مو هم ژوندي پیدا کړل احمد او ضرار زخمي شوی عبیده له پخواني ځایه بدل کړی ؤ او مونږ یې هم هلته وروستو
عبیده چې ټوله ورځ وینه تړې تللي وه بیهوشه پروت ؤ انس جان لکه مور خپل خوږ ملګری ټینګ په غیږ کې ؤ نیوو
کجورې یې پرې وخوړې او یو د شودې ډبې یې هم پرې وڅکو خو هغه یې بیرته قی کړ
نور ملګري د بلال امیر صاحب په شمول له دې ځایه وتلي ؤ تر څو د زخمي لپاره د وړلو څه طریقه وکړي
دا د کړنګ هغه بوږنونکې شپه وه چې په لمړي ځل په مونږ راغلي وه
دې غم دلته د کړنګ ونې هم وژړولې
عبیده مو په ځادرونو کې کلک وتاړۀ او د کړنګ په پړښو او لوړو لوړو کمرونو کې مو له دې بوږنونکي ځایه په ډیر تکلیف وایستۀ.

د تحریک طالبان پاکستان د امیر
مفتي ابومنصور عاصم نور ولي محسود حفظه الله
د هیواد پر روان وضعیت او د علماء کرامو د مظلومانه شهادتونو په تړاو مهم پیغام



بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله رب العالمین، رب الشهداء والمستضعفین، والصلاة والسلام علی اشرف الانبیاء وامام المرسلین. امابعد! فقد قال الله تبارک وتعالی اعوذ بالله من الشیطن الرجیم، قَالَ مُوْسَی لِقَوْمِهِ اسْتَعِیْنُوْا بِاللهِ وَاصْبِرُوْا اِنَّ الْاَرْضَ لِلهِ یُوْرِثُهَا مَن یَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهِ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِیْنَ.

وقال رسول الله صلی الله علیه وسلم: «إذا دخل رمضان فُتحت ابواب السماء، وفي روایة: "فُتحت ابواب الجنة وغُلقت ابواب جهنم، وسُلسلت الشیاطین». (متفق علیه)

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: «کله چې رمضان راشي، د آسمان دروازې خلاصیږي، او په بل روایت کې راغلي چې؛ د جنت دروازې خلاصیږي، د جهنم دروازې بندیږي، او شیطانان په ځنځیرونو تړل کیږي».

زما محترمو مسلمانانو وروڼو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته،

د ۱۴۴۶ هـ ق د رمضان المبارک د دې بختورې میاشتې په مناسبت، زه غواړم د خپل ګران وطن له مسلمانو وروڼو سره ځو خبرې وکړم. له الله تعالی څخه دعا کووم چې زموږ ګناهونه وبخښي، زموږ عبادات قبول کړي، او د اسلام د حاکمیت او سربلندۍ لپاره د ټولو مسلمانو وروڼو هڅې په خپل دربار کې قبولې کړي.

زما ګرانو مسلمانانو وروڼو!

د پاکستان مسلمان ولس ته دا خبره ښه څرګنده ده، چې له تیرو دوو لسیزو راهیسې د پاکستان اسلام دښمنه پوځ او استخباراتي ادارو د پاکستان پر مسلمانانو هر اړخیز ظلمونه پیل او روان ساتلي دي، چې په غبرګون کې موږ د دوی پر وړاندې خپل مقدس جهاد پیل کړ.

دې مقدس جهاد ته د مشروعیت حیثیت د پاکستان د معتبرو دیني مدرسو او مراکزو له خوا ترلاسه شوی، چېرته چې له پنځه سوو څخه زیاتو جیدو علماوو او مفتیانو د ایماني جرأت مظاهره وکړه او یوه تاریخي فتوا یې صادره کړه. د همدې فتوا پر بنسټ، سلګونو علماوو او زرګونو د نبوي علومو زده کوونکو طالبانو خپلې قیمتي ځوانۍ او سرونه د الله تعالی په لار کې قربان کړل.

د همدغو قربانیو برکت دی چې نن ورځ بحمدلله مجاهدین د پاکستان د فتحې پر درشل ولاړ دي.

قدرمنو مسلمانانو وروڼو! د دین اسلام سربلندي الله تعالی له دوو شیانو سره تړلې ده:

۱. «استعینوا بالله» – یانې یوازې له الله تعالی څخه د مدد او نصرت غوښتنه.

۲. «واصبروا» – یانې صبر، څکه چې د دین اسلام په ټولو عباداتو کې جهاد یواځینی هغه عمل دی چې ډېر زیات صبر ته اړتیا لري، همدا لامل دی چې علماوو کرامو ورته د «معرکة الصبر» نوم هم ورکړی دی.

لهذا، د اسلام دښمنه ادارو پروړاندې، ټول هېوادوال باید د مجاهدینو په څېر د صبر لمن کلکه ونیسي او د دین او ملت د دغو غدارانو پروړاندې له الله تعالی څخه په زارۍ او عاجزۍ سره مرسته او کومک وغواړي.

ټوله ولس او اسلامي امت شاهد دی، چې د پوځ افسران او د اسټېبلشمنټ چارواکي د الله تعالی د احکامو څخه په ښکاره بغاوت کې واقع او د دنیا په شهوتونو کې ډوب او غرق پراته دي.

زما عزیزانو! دا خبره ټولو ته روښانه ده، چې د پاکستان ظالمې او شکیلاککري پوځي طبقې د تېرو ۷۸ کلونو راپدېخوا د دې مظلوم ولس آزادي یرغمل کړې او له دې ولس څخه یې خپل غلامان جوړ کړي دي.

د خپلې خوښې حکومتونه جوړول او نړول، د خپلو خواهشاتو مطابق قوانین وضع کول او لغوه کول، بېګناه پښتانه او بلوڅان تښتول او کلونه‌کلونه یې لادرکه کول، د غنیمت په څېر د ملي خزانې لوټل او همدارنګه د هېواد پر وسایلو جبري تسلط، د دې مسلطو پوځي جنرالانو لپاره یوازې د ښي او چپ لاس یوه ساده لوبه ګرځېدلې ده.

د ظلم او استبداد د دغه توربات څخه د دې مظلوم ولس د را ایستلو او د وطن ټولو قومونو ته د هغوی د جایزو حقونو د ورکولو لپاره، د پاکستان مجاهدین په دې مقدس جهاد کې شپه او ورځ قرباني ورکوي.

له همدې امله، د دې مقدس جهاد د بریا بل پړاو ته د رسېدو لپاره، سږکال به د «الخندق عملیات» تر نامه لاندې سپېڅلې جهادي مبارزې ته لا زیات سرعت او نوښت ورکړل شي. «إن شاءالله العزیز»

نو څکه، د دې کډ دښمن له شره د خلاصون په موخه، ټول اهلیانِ وطن باید د پاکستاني طالبانو ملاتړ وکړي.

موږ د خپل رب ذوالجلال څخه پوره پوره امید لرو، چې د دې مبارک نوم «خندق» له برکتونو څخه به ټول ملت برخمن کړي، او له دې وحشي ځناورو څخه به مو وژغوري چې د هېواد د نظریاتي، فکري، اسلامي او ملي ریښو د پرې کولو هڅې کوي.

کرانو هېوادوالو! د «الخندق عملیاتو» د اعلان پر مهال، زه د پاکستان غیورو علماوو او مظلومو قومونو ته دغه پیغام ورکووم چې، زموږ اصلي او اساسي هدف هغه اسلام دښمنه، مفسده او جابره پوځي او جنرالي طبقه ده چې د تېرو اوو لسیزو راهیسې د پاکستان د خلکو دین، مال، ژوند، عزت او ملي منابعو باندې یې قبضه او ولکه حاکمه کړې ده، او د دوی له امله زموږ هېواد په بحراني حالت کې غورځېدلی دی، او د هېواد اقتصاد له تباهۍ سره مخ دی.

موږ پوځي او تش په نامه امینتي ادارو پرته، د سیاسي او مذهبي ګوندونو، شخصیاتو او ملي مشرانو سره هیڅ کوم مشکل نه لرو، بلکې موږ یې پوهېږو او ګمان کوو، چې هغوی هم زموږ په څېر مظلوم دي.

له همدې امله موږ اړتیا لرو چې په ګډه سره د دې ظالم ټولې څخه د نجات لپاره په یوه واضحه تګلاره او میکانیزم باندې کار وکړو.

زما کرانو هېوادوالو! له اوږدې مودې راهیسې، د پوځ یوه ډله په دې هڅه کې بوخته ده چې د مجاهدینو او د علماء کرامو او مذهبي ګوندونو ترمنځ د بېلابېلو چالونو په کارولو سره فاصله او لېرېوالی رامنځته

کړي. د همدې لپاره له تېرې څه مودې راهیسې دوی د علماء کرامو د شهیدانولو، پر عامه آبادیو او بازارونو باندې د بمبارۍ، د مجاهدینو د ملاتړ په بهانه د بېګناه خلکو د کورونو د ویجاړولو او له سیمې څخه د شړلو او همدارنګه د مجاهدینو د خپلوانو د بېځایه نیولو او تنکولو وحشي لړۍ پیل کړې ده. او بیا په ځېر په ډېرې سپین سترګۍ او بېشرمۍ سره کوښښ کوي ترڅو د دغو جرمونو پړه د مجاهدینو پر سر واچوي.

خو اوس ټول ولس پدې پوه شوی دی، چې چېرته هم ترهګري ده، ترشا یې پوځي اداري دي، چې د خپلو شومو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره سلګونه او زرګونه بېګناه انسانان قرباني کول خپل حق ګڼي.

علماء کرام د ټولنې د دیني او دنیوي خوشحالۍ، سعادت او اخروي نجات سرمایه ده، د دوی وینه تویول خو ډېره لیرې خبره ده! بلکې د دوی پر ضد او خلاف خبرې کول هم د هلاکت سبب ګرځي.

د علماء کرامو د شهادتونو په ځانګړې توګه د مولانا حامد الحق رحمه الله د شهادت په اړه دا خبره ښکاره او واضحه ده، چې د دوی قاتلین هاغه کسان دي چې څو موده مخکې یې د اسلام د لارې د مجاهدینو د زړونو پیر، د دیوبند ثاني، جامعه دارالعلوم حقانیې مرشد، مولانا سمیع الحق رحمه الل او استاد العلماء شیخ نصیب خان رحمه الل، شهید اسلام مولانا محمد یوسف لدیانوي رحمه الل او مفکر اسلام مفتي نظام الدین شامزي صاحب رحمه الل له مجاهدینو سره د مینې او وفادارۍ په جرم کې په بېرحمانه توګه په شهادت ورسول.

په حقیقت کې د مولانا حامد الحق رحمه الله قاتلین هاغه کسان دي چې څه موده مخکې یې د وفاق المدارس العربیه پاکستان د مشر، استاد العلماء، ولي کامل، شیخ سلیم الله خان رحمه الله جانشین او ارجمند زوی مولانا ډاکټر عادل خان صاحب په

شمول د کنو دیوبندي علماوو، بریلوي علماوو او اهل حدیث علماوو پاکې او نازکې سینې په ربړا ورځ د هېواد په چوکونو او څلورلارو کې په مرمیو سوری سوری کړې او د هر هغه غږ د خاموشه کولو او اداري د ختمولو لپاره چې د دوی د شومو هدفونو په وړاندې خنډ ګرځېدل، آن فاسفورس بمونه هم وکارول.

د داسې حقپلوه علماوو، د دین اسلام د رجالو او د اسلامي ملت د نمایندګانو د څرګندو قاتلانو په اړه د پاکستان د خلکو او تاثیر لرونکو شخصیتونو سکوت هم یوه پوښتنه ده.

له همدې امله، داسې څرګندونې کول چې کواکې دا وحشیانه عملونه د پاکستان د مجاهدینو سره تړاو لري، لویه بې انصافي او ظلم دی. موږ د دې ظالمانه وژنو څخه په بشپړه توګه بېطرفه، لېرې او پاک یو.

که چېرته د علماء کرامو په شهادتونو کې داسې کوم بدبخت کس ښکېل پیدا او وموندل شي، چې د مجاهدینو له لباس او صف څخه په ناوړه او شیطاني استفادې سره، د دین اسلام د دښمنانو د اهدافو تکمیل ته کار کوي، نو باید هغه موږ ته په ګوته او ښکاره کړای شي، ترڅو موږ ورته د شریعت مطابق حقیقي سزا ورکړو، ځکه دا موږ خپله یوه دیني وجیبه او مسؤلیت ګڼو.

په پای کې، د ټولو تش په نامه امنیتي ادارو کارکوونکو کسانو ته د زړه له کومې دا پیغام ورکول غواړم چې:

تاسې خو په دې ادارو کې د ښه نیت او پاکې جذبې سره د ملت او هېواد د خدمت لپاره جذب شوي یاست، خو تاسې یوه لحظه یوازې پدې فکر وکړئ چې تاسې من الحیث الاداره (په ریاستي کچه) د چا لپاره کار کوئ او د چا لپاره استعمالیږئ؟

او کله چې د شلو کلنو وروسته، د نړۍ ټول ځواکونه

او قوتونه د اسلامي امارت مخې ته پر او تسليم شول، او په افغانستان کې اسلامي حکومت رامنځته شو، نو آيا په دې درې کلنه لنډه موده کې د پاکستان دولتي ادارې په ملي او نړيواله کچه د اسلامي امارت پر وړاندې د ستونزو او مشکلاتو په پيدا کولو کې تر هرڅه مخکښ او وړاندې نه وو؟
دغو خود غرضه ادارو تېر کال ناقانونه افغان مهاجرين په زور او جبر سره وويستل او اوس يې په قانوني توګه د مېشتو افغان کډوالو د ايستلو لپاره هم چمتوالی نيولی دی، آيا په دا ډول ټولو جرمونو کې ستاسې په څېر پوځيان نه استعماليږي!؟
آيا په تېرو شلو کلونو کې د پاکستان دننه په لکونو عملياتو کې، د خيبر پختونخوا څخه تر بلوچستان پورې او په ټوله قبايلي سيمه کې د ظلم او وحشت د بېمثال داستان په ليکلو کې تاسې د خپلو لوړپوړو افسرانو د حکم په اساس په دې کې شريک نه وئ؟

من حيث الاداره، تاسو چې د لال مسجد او جامعه حفصې پر طالبانو او پاکو نجونو باندې کوم ظلمونه ترسره کړل، آيا تاسو د دې کړنو په اړه د نړۍ په کومه محکمه کې د مخ ښکاره کولو جرأت او وړتيا لرئ؟
آيا تاسو په پاکستان کې د سياسي او مذهبي مشرانو او کارکونکو په شهيدانولو، نيولو او د هغوی د چارديوالی حرمت ته په زيان رسولو کې شريک نه وئ؟
که تاسو د څو پيسو لپاره د دې ټولو جرمونو په ترسره کولو کې ځانونه د خپلو لوړپوړو افسرانو د حکم تابع کنئ، نو زه له تاسې دا پوښتنه کول غواړم چې پداسې دنده او وظيفه کې تاسې د دين خدمتکاران ثابتېږئ او که دښمنان!؟
د خدای لپاره! نور پر خپل ځان او اولادونو مو رحم وکړئ، خپل اولادونه مو د دنيا او آخرت له تباهۍ څخه وژغورئ او دوی له دې ذليلې نوکرۍ څخه وباسئ او په کومه بله حلاله نوکرۍ او دنده کې يې بوخت کړئ.
هغه ورځ ډېر لېرې نه ده، چې په دې ادارو کې دنده ترسره کوونکي کسان به د دې ملت مخې ته د ځان څرګندولو وړ او قابل نه وي.
الله تعالی دې د ټولو مسلمانانو مرسته او نصرت وکړي. آمين
وعليکم السلام ورحمة الله وبرکاته!

د خېښـۍ، ودونو، مصيبتونو او همدا راز له حج او عمرې څخه د راستنېدو پر مهال د ناسـمو رواجونو د مخنيوي په هکله د عاليقدر اميرالمؤمنيـن حفظـه الله تعالى فرمان

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيم

الحمـدلله ربِّ العلميـن والصّلوة والسّلام على سيّد المُرسـلين و علـى آلـه و أصحابـه أجمعيـن.

د الله تعالـى دين چې خاتم الانبياء حضرت محمد صلى الله عليه وسلم انسانانو ته رسولى او بيان كړى دى، د دنيا او آخرت هر ډول نېكمرغي، ښېرازي او خوښي پكې نغښتې ده، چې په عملي كولو سره يې يقيناً د انسانانو ټولې ستونزې حل او د ژوند په هره مرحله كې يې له ښې ساري آسانتياوو څخه برخمن وي، الله تعالى ته خپل دين خوښ دى او خپلو بندګانو ته يې د مهربانۍ له مخې د فكر، تدبر او عملي كولو بلنه وركړې ده او د ژوند په ټولو ساحو كې د دين د عملي كولو لپاره يې حضرت محمد صلى الله عليه وسلم نمونه ګرځولې ده او د هر هغه څه چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم امت ته وړاندې كړې دي، د عملي كولو او له هر هغه څه څخه چې منع كړې يې دي، د ځان ساتلو حكم يې كړى دى. لكه څنګه چې الله جل جلاله په لاندې آيتونو كې فرمايلي دي:

[لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ](الأحزاب: ٢١)

ژباړه: خامخا په تحقيق سره دى تاسو لره په (كار د) رسول الله كې اقتداء غوره نېكه (كابلى تفسير)

همدا راز الله جل جلاله فرمايلي دي: [وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا](الحشر، آيت: ٧).

ژباړه: او هغه څه چې دركړي تاسې ته رسول (د الله)، نو واخلئ هغه؛ او هغه څه چې منع كوي (رسول الله) تاسې له هغه څخه، نو بېرته شئ (مه يې غواړئ). (كابلى تفسير)

بله خبره دا؛ هر هغه څه چې په دين كې نه وي، رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه مردود او باطل ګرځولي.

لكه څنګه چې له حضرت عائشې رضي الله تعالى عنها څخه روايت دى، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ.

ژباړه: چا چې داسې يو عمل وكړ چې زموږ په دين كې نه وي، هغه مردود او باطل دى.

له حضرت شعبي رحمه الله تعالى څخه روايت دى چې، حضرت عمر بن الخطاب رضي الله تعالى عنه وفرمايل: يآأيها الناس رُدُّوا الجهالاتِ إلى السنةِ.

ژباړه: اى خلكو! جاهلانه (د سنتو خلاف) طريقې سنتو ته واړوئ (د سمون كوشش يې وكړئ).

پورته آيتونو، حديث شريف او مبارك اثر ته په كتو، اسلامي امارت غواړي چې د ژوند په ټولو ساحو كې د سنت خلاف طريقې سنت ته واړوي، بناءً دا چې؛ نكاح (واده كول) سنت دى؛ خو متأسفانه زموږ په ټولنه كې له دغه شرعي او مسنون عمل سره ناسم او تاواني رواجونه تردې حده كډ شوي چې خلك يې نه يوازې په دنيوي لحاظ له ملا ماتوونكو مالي زيانونو سره مخ كړي دي، بلكې په ديني لحاظ هم ډېر منكرات پكې ترسره كېږي، چې د څو مواردو يې دلته د اصلاح او مخنيوي په موخه يادونه كېږي:

په مهرونو كې زياتوالى غوره كار نه دى!

شريعت، په ودونو كې د اسانتياوو او له درنو مصارفو څخه د ډډې كولو ترغيب وركوي.

له حضرت عائشې رضي الله تعالى عنها څخه روايت دى چې، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: إِنَّ أَعْظَمَ النِّكَاحِ بَرَكَةً أَيْسَرُهُ مَؤُونَةً.

ژباړه: په تحقيق سره، ډېره بركتي نكاح هغه ده چې لګښت يې لږ وي. په يو بل حديث شريف كې راځي: «تَيَاسَرُوا فِي الصَّدَاقِ، إِنَّ الرَّجُلَ يُعْطِي الْمَرْأَةَ حَتَّى يَبْقَى ذَلِكَ فِي نَفْسِهِ عَلَيْهَا حَسِيكَةً».

ژباړه: په مهر کې له یو بل سره آساني کوئ (یعنې لږ مهر ټاکئ) ځکه کله نارینه، ښځې ته دومره مهر ورکړي چې له امله یې له هغې ښځې سره په زړه کې کینه (نفرت) پیدا شي.

حضرت عمر رضي الله عنه فرمایلي دي:

أَلَا لَا تُغَالُوا صَدُقَةَ النِّسَاءِ، فَإِنَّهَا لَوْ كَانَتْ مَكْرُمَةً فِي الدُّنْيَا، أَوْ تَقْوَى عِنْدَ الله لَكَانَ أَوْلَاكُمْ بِهَا النَّبِيُّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ژباړه: خبردار! د ښځو مهرونه ډېر مه زیاتوئ، ځکه که د مهر زیاتوالی دنیوي عزت او یا د الله عزوجل په نزد تقوی وای، نو نبي صلی الله علیه وسلم یې تر تاسې زیات مستحق و.

له یادو او ځینو نورو مبارکو حدیثونو ځخه په استدلال سره، فقهاء کرامو رحمة الله تعالی علیهم په مهر کې تخفیف مسنون او مرغوب بللی دی.

مهر، د منکوحې ښځې حق دی او بل هیچا ته یې خوړل صحیح نه دي.

مهر، د ښځې حق دی بل هیڅوک حق نه لري چې د هغې له خوښې پرته یې مصرف کړي، تر دې چې فقهاء رحمهم الله تعالی فرمايي: کوم پلرونه او نیکونه چې د لونو یا لمسیو مهرونه خوري، هغوی غاصب او د مهر ضامن دي؛ نو چې پلار او نیکه د مهر په خوړلو غاصب ګڼل کیږي، ورور، تره او نورو خپلوانو ته خو بېخي هېڅ لاره نشته، چې د خویندو، وریرو او یا د نورو خپلوانو نجونو مهرونه وخوري یا یې د هغوی له خوښې پرته مصرف کړي.

پلرونه او خپلوان که د مهر له خوړلو راوګرځول شي، مهرونه خپله را کمېږي، ځکه نن سبا ډېرې پیسې هغه دي چې د مهر په نوم اخیستل کیږي، خو پلار یا نور خپلوان یې خوري او ښځو ته د مهر په نوم ډېرې کمې پیسې ورکوي.

بناءً هغه ځو رواجونه چې پر شرعي منعې او اسراف سربېره په لوړه کچه د اقتصادي ستونزو او د اجتماعي او اخلاقي ناخوالو سبب ګرځېدلي دي، چې د افغانستان اسلامي امارت د مرکزي دارالافتاء اړوند د فقهي مجالسو د علماء کرامو، د افغانستان د معتبرو شیوخ عظامو، د اقتصادي کمېسیون د محترمو غړو او د اړوندو وزارتونو او امارتي ادارو د کډ کمارل شوي هیئت د استازو له لوري تشخیص شول، په هکله یې لاندې مراتب منظوروم:

د واده په اړوندو امورو کې د رعایت وړ ټکي:

لومړۍ ماده:

۱. د بالغې نجلۍ ولي چې اکثره اوقاتو کې د هغې پلار یا ورور وي، شرعاً مکلف دی، تر څو د هغې د شرعي حقوقو رعایت وکړي.

۲. د بالغې نجلۍ ولي شرعاً مسئولیت لري، د هغې په کوزده کولو کې له هغې سره مشوره او د هغې مثبت نظر واخلي.

۳. د بالغې نجلۍ ولي، شرعاً نه شي کولای د هغې له خوښې پرته په اجبار سره یې چاته په نکاح ورکړي.

۴. که د بالغې نجلۍ ولي، یاده نجلۍ د هغې له خوښې پرته په اجبار سره چاته په نکاح ورکړه، هغه کولای شي محاکمو او اړوندو ادارو ته شکایت او عریضه وکړي.

۵. ښځه، د اسلام له نظره د نکاح کولو په موضوع کې د نارینه په څېر خپلواکه ده، په هېڅ صورت د چا مال نه ګرځي او د خپل خاوند له مړینې او یا طلاق وروسته، د دې له خوښې او مشورې پرته یې خسرګنۍ او یا هم پلارګنۍ په زوره بل چاته په نکاح نه شي ورکولای، په خپله خوښه چېرته او چا سره چې یې زړه وغواړي، له شرعي اصولو سره سم نکاح کولای شي.

۶. کوم مهر چې په نکاح کې ښځې ته ورکول کېږي، هغه د ښځې حق دی او څوک یې نه شي ترې اخیستلی.

۷. که څوک په کومه نجلۍ یا ښځه ډزې وکړي، یا یې پېکی پرې کړي او یا خادر پرې واچوي، په دې او یا په بلې طریقې سره په جبري توګه هغه خپله ښځه وګڼي، دا غیر شرعي عمل او جرم دی، داسې اشخاص

دي د اسلامي امارت محاکمو ته معرفي کړل شي، ترڅو د خپل جرم په سزا ورسېږي.

۸. هغه کوژده چې د شاهدانو په مخ کې عقد (ایجاب او قبول) پکې نه وي شوی، شرعاً نکاح نه بلل کېږي.

۹. په اسلامي شریعت کې د مهر کمه اندازه لس درهمه او زیاته اندازه یې حد نه لري، که مېرمن راضي وي، په لس درهمه یا د هغې په معادل مال هم نکاح کېږي، که د هغې خوښه نه وي، بیا له زړه سوانده او خیرخواه پلار یا نیکه پرته نور خپلوان او یا بد اختیاره پلار او نیکه نه شي کولای چې تر مهر مثل په کمه اندازه د هغې نکاح وتړي او که یې تر مهر مثل په کمه اندازه د هغې نکاح تړلې وي، داسې نکاح صحیح نه ده؛ مهر د مېرمنې حق دی، خپلوان د ځان لپاره یوه پیسه هم نه غوښتلی او نه اخیستلی شي.

۱۰. اسلامي شریعت د مهر د کموالي ترغیب کړی دی، خلک دې هڅه وکړي چې د زیات مهر اخیستلو رواج ختم او په کم مهر دې اکتفاء او بسنه وکړي.

۱۱. له مهر څخه علاوه د ولور، خورې، بابېرې، طویانې او خوښې په نامه، د خسرګنۍ لخوا او یا د نورو رواجونو په نوم پیسې اخیستل جائز نه دي، فقهاء کرام رحمهم الله یې رشوت ګڼي.

۱۲. له کوژدې وروسته د ښه خلاصي یا ښه ارتي او شریني خورې (غټ دستمال) او یا په نورو نومونو سره میلمستیاوې جوړول، بېځایه رواجونه دي، ډډه دې ورڅخه وشي، د دوه ځله دستمال ورلو (غټ دستمال) اجازه نشته او په یو ځل دستمال (وروکي دستمال) کې به هم د نارینه او ښځینه میلمنو تعداد په کمه اندازه وي او په دې مراسمو کې له زوم او ناوې پرته بل چاته تحفې ورکول منع دي، البته زوم او ناوې ته تحایف به هم د وسعې مطابق یوازې جامې او نور د وړ او سینګار عادي شیان وي. موټر، موټرسایکل، کور (سرای) او داسې نور قیمتي شیان به په تحفه کې نه ورکول کېږي.

۱۳. د دستمال مراسم به په هوټل کې نه وي، ځکه دا اسراف دی او الله تعالی فرمایلي دي: [یَا بَنِي آدَمَ خُذُوا زِينَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ وَكُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوا إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ] (الاعراف: ۳۱).

ژباړه: ای زامنو د آدمه! واخلئ تاسې زینت (ښائست) خپل په نزد (د وخت) د هر لمانځه (په اغوستلو د پاکو کالیو (جامو) د عورت ستر) او خورئ او څښئ او اسراف (بې ځایه خرڅ) مه کوئ تاسې بې شکه چې الله نه خوښوي مسرفان (بې ځایه خرڅ کوونکي). (کابلی تفسیر)

۱۴. له کوژدې او نکاح وروسته دې هڅه وشي چې د امکان په صورت کې هر څومره چې ژر وي، واده وشي.

۱۵. له کوژدې وروسته رواجي او تکراري پوښونه (جوړې) منع دي، په کال کې یو ځل د زوم لخوا یوازې ناوې ته له اسراف پرته د وسعې مطابق د پوښ (جوړې) وړلو اجازه شته، د ناوې لخوا زوم ته د پوښ (جوړې) وړل مطلقاً منع دي.

۱۶. د ولیمې او واده مراسم به له اسراف او ریاء پرته د زوم د وسعې مطابق د هغه د خوښې په ځای او موټرو کې ترسره کېږي، خسرګنۍ یې نه شي مجبور کولای چې په هوټل، یا قیمتي موټرو کې د واده مراسم ترسره کړي.

۱۷. زوم به د واده مراسم په امارتي موټرونو کې نه ترسره کوي.

۱۸. د واده پر وخت د زوم لخوا دې د ناوې کورنۍ ته خورې یا طوی (پاخه یا خام خوراک) نه وروړل کېږي، همدارنګه د بولې (شیریني خوری) او جوړې د مصارفو اخیستل او غوښتل هم منع دي، او همداراز له زوم څخه د دود او تکرې په نوم او یا په نورو نومونو رختونه غوښتل منع دي، او د شریعت له مخې د یادو شیانو اخیستل ناجائز کار دی.

۱۹. د ناوې وړلو پر وخت د ناوې د ماما، د ناوې د همزولو، د کلیوالو او یا بل خدمتکار لخوا او یا د دوی لپاره د زوم له کورنۍ څخه پیسې غوښتل منع دي، البته

که د کلي خدمتګارته چې همېشه په ښاديو کې د کليوالو خدمت کوي، په خپله خوښه څوک د صدقې په نوم پيسې ورکوي، باک نه لري.

۲۰. په ودونو کې د لوبو داسې مسابقې جوړول چې ګټونکي ته د موټر، موټرسايکل يا بل شي انعام ورکول کېږي منع دي، ترڅو د بېځايه اسراف مخه ونيول شي، البته د جائزو لوبو مسابقې چې انعام پکې نه وي، جوړېدای شي.

۲۱. د کوژدې، دستمال يا واده د مراسمو پرمهال ډزې (ټکان) کول او له امارتي وسايطو څخه استفاده کول منع دي. همدارنګه په ورته مراسمو کې د موټرو او موټرسايکلو ځغلول، لويې وراوې (جنجونه) تيارول او يا داسې نور کارونه چې د لارې د بندېدو يا د تلفاتو او يا د خلکو د اذيت سبب کېږي، منع دي.

۲۲. په واده کې يا له هغه وروسته ناوې ته د نورو کورونو د نارينهؤ او ښځينهؤ لخوا برخه (جامې يا پيسې) ورکول او بيا د ناوې لخوا په عوض کې برخه ورکول منع دي، ځکه له دې ناوړه رواج څخه يو دروند تکليف رامنځته شوی او بده لا دا چې د هر څه عوض په بېرته ورکوي، چې د محبت پرځای نفرت پيدا کوي.

۲۳. د دستمال په مراسمو کې به د زوم له کور پرته نور مېلمانه ناوې ته د پيسو ډالۍ نه ورکوي او نه به د ناوې کورنۍ مېلمنو ته جامې او نورې ډالۍ ورکوي، البته له اسراف او رياء پرته د مېلمنو اکرام پروا نه کوي.

۲۴. بدل/موخی ښه عواقب نه لري حتی الامکان دې ترې ډډه وشي، د بدل/موخی په صورت کې د مهر ټاکل او ورکول ضروري دي، علماء کرام دې د بدل/موخی د کراهيت په هکله خلکو ته پوهاوی ورکړي.

د مړي په مراسمو کې د رعايت وړ ټکي:

دوهمه ماده:

۱. په ځينو سيمو کې د مړي د کورنۍ له لوري کليوالو او نورو خلکو ته په معينو ورځو کې طعام او مېلمستيا برابرېږي، چې فقهاء کرامو ترې منع کړې ده، په دې هکله د فقهاء کرامو څو اقوال په لاندې ډول دي:

- د مړينې په مناسبت د مړي د کورنۍ له لوري خلکو ته مېلمستيا برابرول مکروه دي، ځکه مېلمستيا په خوشحاليو کې وي، نه په غمونو کې، دا ډېر بد بدعت دی (چې د غم په ورځ خلکو ته مېلمستيا تياروي، ځکه چې شريعت کې دا اصل نه لري او بل دا چې د دغو ورځو خپل خپل ترتيبونه او مکلفيتونه دي).
- د مړينې په مناسبت راټولو شويو خلکو ته د مړي د کورنۍ له لوري د خوراکونو چمتو کول ګناه ده، جرير بن عبد الله رضی لله عنه فرمايي: د مړي په کور کې د هغه د خپلوانو راجمع کېدل او د هغوی له لوري د خوراک ترتيبول موږ له نياحت څخه ګڼو، يانې لکه وير (چغې او فرياد) مو چې ممنوع او بد ګڼلو دا مو هم بد ګڼلو (حال دا چې نياحت او وير کبيره ګناه ده).
- د مړي د کورنۍ لخوا خلکو ته خوراک برابرول مکروه دي، ځکه چې له دې سره يې مصيبت زياتېږي او بل دا چې د جاهليت د زمانې له خلکو سره مشابهت راځي.
- رواجي خيراتونه د ځان مشهوره کولو او رياء لپاره دي، د لله تعالی لپاره يې نه کوي له دې امله بايد ډډه ترې وشي.
- رواجي خيرات که مباح هم شي له دې امله چې خلکو د واجبوالي مرتبې ته رسولي، مکروه او ترک يې ضروري دی.

پورته ذکر شويو شرعي دليلونو او همدارز نورو ګنو، ټولنيزو، شرعي او اقتصادي رامنځته کېدونکو زيانونو ته په کتو سره په لاندې ټکو باندې عمل کول ضروري دي:

۱. د مړي د کور له لوري د بدرګې او مېلمستيا په څېر د رواج له مخې (په لومړۍ، دريمه، اوومه او څلوېښتمه ورځ) طعام برابرول، منع دي، د مېلمستيا له شکل او د

ورځې له تعیین پرته د نقد مال یا جنس صدقه کول چې لاندې شرطونه هم پکې رعایت شوي وي، مړي ته د ثواب سبب دي:

۱- صدقه به د ریاء، شهرت، سیالۍ، رواج او د خلکو د پېغور له امله نه وي.

۲- صدقه او خیرات به واجب او ضروري نه ګڼل کیږي، که چا ونه کړ هغه ته به په بده سترګه نه کتل کیږي.

۳- صدقه او خیرات یوازې بالغ او عاقل وارثان له خپل مال څخه په خپله خوښه کولای شي، د یتیم او غیرحاضر وارث مال به پکې نه مصرفیږي.

(۲) د یتیم له مال څخه په مړي پسې خیرات او صدقه کول که څه هم د یتیم په اجازه وي، منع دي، هغه څوک چې د یتیم په مال کې دا ډول تصرف وکړي، ضمان پرې لازم دی.

(۳) په ځینو سیمو کې د رواج له مخې خلک د مړي په لومړي اختر د مړي کورته د تعزیت لپاره ورځي، دا هم ناسم رواج او منع دی.

(۴) په ځینو ځایونو کې رواج دی چې ښځه تر وفات وروسته ضرور باید د پلرنۍ (هدیرې) ته انتقال کړل شي او نه انتقال یې د ټول قوم لپاره پېغور ګڼل کیږي، چې دا کوم شرعي حیثیت نه لري، بلکې غوره دا ده چې د هغې د خاوند او اولادونو د خوښې په هدیره کې دفن کړل شي.

(۵) د ګاونډیانو او خپلوانو له لوري د مړي کورته طعام برابرول مستحب عمل دی.

(۶) د تعزیت لپاره د شریعت مطهره له لوري د دفن له ورځې سره درې ورځې تاکل شوي دي، البته غائبو اشخاصو ته تر هغه وروسته هم د تعزیت کولو اجازه شته.

(۷) له یو ځل فاتحې کولو وروسته بیا د مړي کورته د فاتحې په نیت ورتلل مکروه دي.

(۸) امارتي مسئولین دي د خپلو وفات شویو خپلوانو فاتحې نه اعلانوي، له اعلان پرته د خپلو اوسېدلو په ځای کې دي یوازې تر درو ورځو د فاتحې لپاره کښېناستلای شي.

(۹) حیله اسقاط د هغه مړي لپاره کیږي چې فقیر، یا مالدار وي خو له وصیت پرته وفات شوی وي، یا یې وصیت هم کړی وي خو د مال دریمه برخه یې د واجبو فدیو لپاره کفایت نه کوي، که مړی شتمن وي او وصیت یې کړی وي پر ولي باندې یې واجب دي چې واجبې فدیې به یې د مال له دریمې برخې څخه اداء کوي او یوازې په حیله اسقاط به بسنه نه کوي، البته د حیلې طریقه به د حنفي فقهې د هغو شرطونو مطابق وي چې یادونه یې شوې ده.

(۱۰) د شرعي حیلې شرطونه په لاندې ډول دي:

۱- د حیله اسقاط لپاره جمع شوی مال به د قبض لپاره یوازې مسکینانو ته ورکول کیږي، غني، ماشوم، لیوني، سفیه (بې عقله) او کافر ته به نه ورکول کیږي.

۲- حیله اسقاط به د رواج او ځان ښودنې په خاطر نه کیږي؛ بلکې په دې نیت به کیږي چې د مړي غاړې پرې خلاصې شي.

۳- د مړي وارثان به د حیلې لپاره له داسې سړي څخه پیسې یا بل جنس نه قرض کوي چې هغه یې په خپله مالک نه وي او نه به له داسې شریک څخه قرض اخلي چې د بل شریک یې اجازه نه وي.

۴- د فدیو کرځوونکی باید د مړي وارث یا د وارث وکیل وي او وکیل ته وویل شي چې د هرې دورې له ختمېدو وروسته د هرې بلې دورې لپاره فقیر ته د مال په ورکولو او بېرته اخیستلو کې بیا زما وکیل یې.

۵- د مړي قضاء شوي لمونځونه او روژې باید دقیق حساب شي او که دقیق معلوم نه وي نو په غالب ګمان دي حساب شي.

۶- فقیر ته د ورکړې پرمهال به یې دا نیت وي چې فقیر د دغو پیسو او شیانو مالک کرځي.

۷- فقیر به په دې پوه وي او یا به یې څوک پوه وي چې په قبض کولو سره یې مالک کرځي.

۸- کوم شخص چې فدیې کرځوي او فقیرته یې ورکوي باید لاسونه ترې لرې کړي او له هغه څخه په بېرته اخیستلو کې تلوار ونهکړي.

۹- د فدیو کرځوونکی به فقیرته داسې الفاظ وایې: دا د فلانکي چې د فلانکي زوی دی د لمونځ، روژې، قسم یا ...فدیې دي قبولې یې کړه، هغه به ووایې: قبولې مې کړې، زه یې مالک شوم، بیا به یې بېرته یاد شخص ته هبه کړي.

۱۰- حیله کوونکي به له دورې وروسته د فقیر له زړه بدوالي څخه ځان ساتي، که مال د حیله کوونکو وي دومره مال به په صدقه کې ورکوي چې د فقیر زړه پرې خوشحاله شي.

۱۱- که د حج په میاشتو کې حیله کیږي دا دي په نظر کې ونیسي چې دومره پیسې یو ځای فقیرته ورنهکړي چې حج ورباندې فرض شي.

۱۲- که مړي وصیت نه وي کړی، ولې یې له مال څخه فقیرته د وارثانو په رضا هغه مهال څه مال ورکولای شي چې په وارثانو کې به یې غائب او صغیرنه وي او که یې وصیت کړی وي، نو بیا د میت د مال له دریمې برخې څخه مال ورکولای شي که څه هم په وارثانو کې غائب یا یتیم وي.

له حج او عمرې څخه د راستنېدو پر مهال له ځینو غیرضروري مصارفو او ناسمو رواجونو څخه ډډه

دریمه ماده:

په ځینو سیمو کې له حج او عمرې څخه د راستنېدو پرمهال د مبارکۍ او سترې مشۍ په مناسبت د سیمې د خلکو او راغلو او رابلل شویو مېلمنو ته درنده مېلمستیا او خیرات برابرول او همدارنګ لوړبیه تحفې خلکو ته ورکول ضروري رواج کرځېدلی دی چې له یوه پلوه کوم شرعي حیثیت نهلري او له بله پلوه د زیات لګښت له امله د زیاتو خلکو له حج او عمرې څخه د محرومیت او یا د تأخیر سبب کرځېدلی دی، له همدې امله باید ټول حجاج او معتمرین له یادو مصارفو او زیان اړوونکو رواجونو څخه ډډه وکړي.

د دې فرمان د حکمونو پوهاوی ورکول او د هغو عملي کول

څلورمه ماده:

(۱) د کورنیو چارو، سرحدونو، قومونو او قبایلو، اطلاعاتو او فرهنګ، د ارشاد، حج او اوقافو، پوهنې او لوړو زده کړو وزارتونه، رسنۍ او په ولایتونو او ولسوالیو کې د علماوو شوراګانې، فقهي مجالس، د مساجدو خطیبان او امامان، ولسي مخور او نفوذ لرونکي مشران دي په حکمت، مصلحت او تفاهم سره په خپله برخه کې د دې فرمان د حکمونو په اړه خلکو ته پوهاوی ورکړي او د پورتنیو احکامو د عملي کولو کوښښ دي وکړي.

(۲) د چارو د اداري لوی ریاست، د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو د اورېدلو وزارت او د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوی ریاست دي، په دوامداره توګه د دې مادې په (۱) فقره کې د یادو وزارتونو، ادارو او اشخاصو له اجراآتو څخه څارنه وکړي.

انفاذ

پنځمه ماده:

دغه فرمان د توشیح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دي خپور شي.

والسلام علیکم ورحمة لله وبرکاته!

امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث

مولوي هبة لله اخندزاده

پاکستاني پوځ د چا په تګ لاره روان دی؟

انجنیر بلال "بارک"

ایا دا ډول کړنې یې د صهونیست اسرائیلي رژیم تصویر نه وړاندې کوي؟

بله غزه جامعه حفصه مدرسه له څو ورځو راهیسې سخته محاصره ده.

پاکستانیو لاسپوڅو نظامي ادارو، پوځ او استخباراتو یې له څو ورځو راهیسې په اسلام اباد کې ښځینه مدرسه «جامعه حفصه» محاصره کړې، او وخت په وخت دا عمل تکراروي. یاده مدرسه چې کڅ شمیر ښځینه او نارینه زده کوونکي پکې اسلامي دیني زده کړې کوي، خوراکي توکي، درمل، دڅښاک اوبه او تګ راتګ یې پرې بند کړی چې د همدې غزې د وحشت تصویر انځوروي.

پاکستانۍ جابرې، فرعوني نظامي ادارې په همدې ډول ناوړه بشر ضد کارونو سره غواړي چې د حق اواز خاموش کړي، پرلپسې څو کاله کیږي چې په همدې مدرسې او لال مسجد باندې عملیات کیږي د بیلابیلو دسیسو په جوړلو سره محاصره کیږي، خونړي بریدونه پرې کوي، یادو پوځي ادارو په ورته نورو زیاتو هغو دیني او اسلامي مرکزونه باندې هم بریدونه کړي او محاصره کړي یې دي چې د دوی د ظلمونو او وحشتونو پر وړاندې یې د حق اواز پورته کړی.

پاکستاني ظالم پوځ او وحشي استخباراتي ادارې چې ځانونه تش په نوم د بشري حقوقو ټیکه داران معرفي کوي، اوس یې هدف له همدې جنایت څخه څه دی چې په همدې روژه مبارکه میاشت کې د صیهونیستي اسرایلو په څیر چې هغو په غزه هر څه بند او محاصره کړي یې ده او دوی جامعه حفصه محاصره کړې؟

پاکستاني جابرو پوځي او استخباراتي ادارو د خپل غربي بادارد خوشحاله کولو لپاره د اسلام دین، دیني مقدساتو توهین، له منځه وړلو او د علماؤ ختمولو لړۍ ته دوام ورکړی، په دې بشري جنایتونو سره غواړي چې له غربیانو څخه مرستې ترلاسه کړي، خپل ځپلی او لوېدلی اقتصاد ورغوي. برعکس همدې پاکستاني لاسپوڅو پوځي ادارو د دین د بدنامۍ لپاره لومړی ځل نه دی چې دا ډول بشري جنایتونه کوي،همدې ظالمو پوځي ادارو له را منځته کېدو تر اوسه وخته پورې یې په دیني شعایرو باندې هر ډول تیرې کړي. هم هغه د صیهونستي ریژم پالیسې په مخ وړې چې له امریکا څخه کټې او ډالرپرې ترلاسه کړي.

جامعه حفصه مدرسه د غزې په برخلیک اخته ده او اسرائیلي وحشتونه پرې کیږي، څو ځله تر سختو حالاتو لاندې راغلې، عملیات پرې شوي، شاوخوا یې پوځ ځای پر ځای شوی، د تګ راتګ لارې یې په سیمنټي دیوالونو باندې بندې شوي، په زیات شمیر ښځینه، نارینه زده کوونکي او استاذان یې په وحشت سره شهیدان شوي، په ۲۰۰۷ کال کې جامعه حفصه او لال مسجد باندې د پاکستاني پوځي اداري مشر جنرال پرویز مشرف حکومت پر مهال دارنه وحشیانه عملیات وشول، چې پکې زیات شمېر ښځینه او نارینه زده کوونکي شهیدان شول.

هغه د ښځو، تش په نوم فعاله ملاله یوسفزۍ اوس چیرته ده چې د ښځینه مدرسې «جامعه حفصه» زده کونکو د حق اخستلو په مورد کانفرانس را وغواړي، که رښتیا سره غم د بشر حقوقو وي نن دوی کوم مصلحت خاموشه کړي؟

موږ مطمین یو چې د پاکستاني پوځي ادارو بشري جنایتونه، دیني شعایرو سپکاوي او بشر حقوقو فعالانو خاموشي به دا د ظلم بیړۍ د حق رښتني طوفان ډوبه وي. إن شاء الله.

د قیام کال

دي برياوي إعزازات
هرخوا فتحي فتوحات
كرل مو پيل په نامه
د (أَلْخَنْدَقْ) عمليات
نوى كال مو د بريا
ځو سنگرته په مُسكا
د تكبير په زمزمو
گرمه كړي مو غزا
منظم مو قِطعات
كړندي مو إقدامات
د سنگر په لوري ځي
د زلميو تشكيلات
شولي گرمي معركي
په طاغوت مستي حملي
إلهي وار د لېږز
د دښمن باسو ريښي
كه وي هر رنگ مشكلات
بدلوو نوره حالات
شي نافذ به شريعت
د ځوانيو په زكات
شو خِنْدَقْ ورته عزاب
نن يې ورځ ده د حِساب
تېر تاريخ إن شاءالله
كړو ژوندى به د أحزاب

پاريدلي مو جزبات
دښمنان به كړو مِرات
وه سِهامه شه تيار
له ظالم اخلو كَسات

صديق اللّه سِهام

د نظم کال

شــول شـــروع تندریــز، عملیـــات الخنـــدق
خامخـــا بـــه راوړي فتوحـــات الخنـــدق
د دښـــمن د مورچـــو، نـــه چاپیـــره را تـــاؤ
شـــازلمي د تحریـــک، طالبـــان پاکســـتان
ســـرۀ اورونـــه دي بـــل، د غلیـــم پـــه مرکـــز
د تکبیـــر دي نعـــرې پـــه جذبـــه دي غازیـــان
خپـــل منـــزل تـــه یـــو ورځ بـــه رســـیږي ضـــرور
دا د حـــق لاروي دا د حـــق ســـپین کاروان
دي روان پـــه هـــر لـــور ، تشـــکیلونه زمونـــږ
وربښـــي مـــو زلمـــو تـــه جذبـــات الخنـــدق
اوازونـــه راځـــي ،د راکـــټ او پیکـــي
ښـــه پـــه درز کـــې روانـــه ده مســـته غـــزا
